# ورک شوی پل



دلنډو
کیسو
مجموعه

لیکوال :
بشیر دودیال

# ورک شوی پل

## دلنډو
## کیسو
## مجموعه

لیکوال :

بشیر دودیال

کال:  ۱۴۰۰

# بسم الله الرحمن الرحیم

## فهرست

د لیکوال یادښت

تقریظ(احسان الله آرینزی)

د آزمایښتونو آزمایښت

رادیو

په ځپ شوی کاروان

د کیسو له ګنج څخه

شهید ورونه

خزانه او مرغلرې

د فال چینه

ګنهکاره لوبه

برار

د سیستان یو پخوانی نکل( له ولسی فوکلور څخه)

ورک شوی پَل

کاپره امریکا ده !

تږی مهاجر

خالونه

ستر ارشاد

د افغانیت ثبوت

# د لیکوال یادښت

ادب او ادبیات یوه ښکلی، عاطفی او ظریفه ښکارنده ده. که په بله ژبه ووایو؛ ادبیات یوه رنګینه او ښکلې نړۍ ده. ادبیاتو سره مینه او له ادبیاتو سره سروکار موندل یوداسې فطري ذوق دی چې باید روزل او پالل شوی وي. په تیره بیا لنډه کیسه په ټولو ادبي ژانرونو کې یو ښکلی او ډیر عاطفي ژانر دی، چې ښه کیسه لیکل، خورا زیار او پوره تجربه غواړي. عجیبه ده چې موږ ګڼ شمیر داسې لیکوال پیژنو چې ادبیات یې مسلکي خانګه نده، خو د ادب په نړۍ کې ښه پیژندل شوي دي. موږ د طب ډاکتر، انجنیر، د زراعت متخصص او نورو څانګو کې داسې کسان پیژنو چې شعر یې لیکلی او یا یې طنز او لنډو کیسو سره سروکار شوی، او یوشمیر یې بریالي او نوموتي هم دي، دا یواځې افغانستان کې نه، بلکې نوره نړۍ کې هم داسې بیلګې شته لکه چخوف او نور.

پخوا چې تربریښنایي رسنیو، راډیو او تلویزیون څخه چاپي رسنیو ډیر لوستونکي او مخاطبین لرل او موثریت یې هم زیات و، د خبري، اطلاعاتي او روزنیزو برخو ترڅنګ یې، ادبی برخې هم لرلې . لیکوالو به خپلې ادبي لیکنې لکه شعر او لنډه کیسه دغو چاپي رسنیو ته استولې. دغه قلم هم په هغه دوره کې مطبوعاتو ته خپلې لیکنې لیږل پیل کړل. دا لیکنې چې لنډې کیسې وې، په یوشمېر مجلو کې نشر شوې، بیا ځینې راډیو کې نشر شوې. په شپیتمه لسیزه کې د دې قلم یو رُمان او د لنډو کیسو دوه ټولګې خپرې شوې؛ رُمان او د کیسو یوه داستانی مجموعه دافغانستان د لیکوالو ټولنې نشر کړل او د لنډو کیسو بله مجموعه د اردو د نشراتو ریاست له خوا چاپ شوه. د داستان لیکلو ته می دوام ورکړ، بیلابیلو خپرونو د لیکلو غوښتنه کوله. د لنډو کیسو دربیمه ټولګه مې هم چمتو کړې وه؛ دهغه مهال د لیکلو په ماشین مې ټایپ او د لیکوالو د ټولنې د داستاني ادبیاتو برخې ته مې سپارلې وه. د لیکوالو د ټولنې د هغه وخت رئیس اروانښاد اعظم رهنورد زریاب یې د چاپ په خاطر رسمي لیک دولتي مطبعې ته استولی و، خو له خپرېدو مخکې مطبعه وسوځیده، زما استول شوی کتاب ورک او دلیکوالو د ټولنې ټول اسناد هم له منځه ولاړل، زه پوه نشوم چې زما دغه ټایپی یواځنی نسخه به څه شوي وي؟ په هغې کې یو شمیر راغلي داستانونه دهغه وخت بیلابیلو مجلو لکه ژوندون، جرګه، سباوون، انیس، آواز او نورو کې چاپ شوي وو. څو نورې لیکنی مې چې په هیڅ ځای کې نه وې نشر شوې، هم د ۱۳۷۱-۷۲کلونو په جګړو کې له لاسه ووتې. له بده مرغه د۱۳۷۱-۷۲ کلونو په تباکوونکی جګړه کې مې د شورا(ایوبخان مینه) په سیمه کې خپل کور بشپړ له لاسه ورکړ. زه د جګړې په یوه ډیره بده ورځ تش لاس د کورنۍ له غړو سره په ډیره خواشینۍ او ویره له کوره ووتم او جلال اباد ته ولاړم.

کله چې دوه کاله وروسته جګړه یو څه کمه شوه؛ راغلم، د کور مې هیڅ نه و پاتې: یوه د سپیروخاورو غونډۍ وه، دروازې ، کړکۍ او آن کټارې یې وړې وې. کور له بنسټه نړیدلی و، د کوټو، دهلیز او انګړ بریدونه نه معلومیدل او زما ټول کتابونه، لیکنې، ژباړې او اسناد له منځه تللي وو. په دې توګه زه نه یوازې دخپل کور د اسبابونو او وسایلو په خاطر، بلکې تر دې هم زیات د خپل کتابتون د کتابونو، مجلو، قلمي ناچاپه آثارو او له لاسه وتلیو ژباړو او په دې کې د لیکل شویو لنډو کیسو له امله خپه شوم. په دې کې د یوشمیر مجلو کلکسیونونه، نقشې او نور اسناد هم وو. ممکن هغه مادي زیان هېر کړم، خو هغه معنوی زیان او له لاسه وتلی آثار نشم هیرولای.

کله چې کابل ونړېد او دولتي مطبعه وسوځېده، ګڼ شمیر لیکوال او فرهنګیان پېښورته مهاجر شول، هلته دافغانانو یو شمیرمجلو اوموقوته نشریاتولکه : تعاون، افغانستان ازاد، مرجان، صدف، وفا اخبار، سپیده، هیله، برګ سبز،حقوق بشر اونورو خپرونو او د افغان لیکوالو او فرهنګیانود تجمع مرکزونوسره همکار شوم. دغه قلم د دې ډلې یو و. وروسته تر ۱۳۸۱ ل. کال څخه چې په هیواد کې نوې سیاسی پروسه پیل شوه، بیا هم دغه قلم دوخت موقوته خپرونو سره همکاری لرله.

دا دی نیت مې وکړ چې یوشمېر هغه لنډې کیسې چې پخوانیو دوو داستاني مجموعو(ټولګو) کې ندي راغلی او ما موندلې، یا نوې لیکل شوي، دلته سره یوځای کوم، خو تر دې منځ ډیرې راڅخه ورکې دي.

دا به زموږ د فرهنګي اعتلا په لاره کې یو ګام وي. ځوان نسل او زموږ نني کیسه لیکوال به په دې سوچ وکړي چې موږ څه ډول کیسې لیکلی. په دې کتاب کې هغه کیسې ندي راغلی چې دوو پخوانیو ټولګو کې نشرشوې وې، بلکې هغه یو څو داستانونه دي چې د پخوانیو کاغذونو له منځه، چې له جګړو او کډو کولو را پاتې وو، لاس ته راغلي دي. د دغو کیسو څخه ځینې یې د تاند او جرمن افغان آنلاین ( GAO) سایتونو کی نشر شوی، چې هغه وخت زما ګران او پخوانی دوست او کیسه لیکوال ښاغلی احسان الله آرینزی راته واټساپ کی د ستاینې یو مسیج راواستاو. دا وخت آرینزی صاحب بهر کې مېشت دی. په دې توګه د ښاغلی آرینزي له دی هڅونې مننه کوم. وروسته می ټول ( ۱۶) لنډ داستانونه سره راټول او آرنیزی صاحب ورباندې یوه لیکنه هم وکړه . په دې توګه ورڅخه مننه کوم.

د دغو لنډو کیسو په لوستو به اوسني کیسه لیکوال او ځوان کول قضاوت وکړي چې پخوا پښتو کیسو کې څه وو؟ لومړنی پښتو کیسه د اروابښاد راحت زاخیلی

شلیدلی پښه وه. وروسته یوشمیر نورو کیسه لیکوالو لکه مهدي شاه مهدی، سلیمان لایق، قتیل خوږیاڼي، غوث خیبری، عبدالله خدمتگاربختانی، ح. زړه سواند، موسی شفیق، شپون او امین افغانپور کیسې ولیکلې او بیا زموږ همزولو لکه زرین انځور، اسدالله غضنفر، احسان الله آرینزی، قدیر حبیب، امان الله ساهو، اکبرکرگر،عیان، بریالی باجوړی، خالق رشید او یوشمیر نورو دوام ورکړ.دا دی اوس نامخدا ګڼ شمیر کیسه لیکوال لرو. هیله ده دغه وربښمین هنر دوام ومومي او د عروج په لوري ولاړ شي.

## د ښاغلي بشير دوديال

## د لنډو کيسو د نوي کتاب په هکله

زما ګران او خواږه ملګري، د ځواني د وختونو د فرهنګي هڅو او سفرونو يار؛ د اقتصاد د پوهنځی اوسنی تکړه استاد، پوهاند محمد بشير دوديال، له ما غوښتي چې د ده د لنډو کيسو په نوي کتاب يو څه وليکم.

زه په داسی حال کی چی د پوهاند دوديال دا غوښتنه، د ځان لپاره وياړ بولم، تر هر څه مخکی دا خبره يادول غواړم چی کاشکی ما او پوهاند دوديال، چی د اقتصاد مسلکی خلک ياستو، هيڅکله لنډې کيسې نه ليکلای؛ بلکه ټوله پاملرنه مو مسلکی چاروته کړی وای، چی ډيره اړتيا ورته لرو.

په نوره نړۍ کې د هرې څانګې خلک، په خپلو څانګړو چارو بوخت دی. د طبيعی او ټولنيزو علومو او فنونو استادانو درانه علمی- څيړنيز کارونه کړی او داسی آثار يی ليکلی چی ځوان او پوهنتونی نسل يی په مينه –مينه لولی او د خپلو – خپلو هيوادونه د اقتصادی – ټولنيزو پرمختګونو له پاره کار ورځينی اخلی. فزيکپوه فزيک ليکی، کيمياپوه کيمياوی فارمولی کاږی، ستوری پيژندونکی فضا (تشيال) ته د تګ په لارو چارو کار کوي، ټولنپوه په خپله برخه کی لکيا دی، حقوقپوه، ساينسپوه، اروپوه، اقتصادپوه، د طب داکتر او لنډه دا چی هر-هر څوک په خپلو برخو کی لګيا دی او علمی اثار پنځوی، د دی په څنګ کی د هنر، ادب او فرهنګ د ډګر خيرې هم لاس تر زنی نه دی ناست. د ادب په ډګر کې په شعر، ناول، رومان، لنډه کيسه، يونليک، ژوندليک او ژباړه؛ د سينما په ډګر کی په سناريو ليکنه او فلم جوړونه، د موسيقی په برخه کې په کمپوز، تصنيف او سندرو او نور د مجسمو په جوړولو، نقاشی، رسامی، کاريکاتور او .... بوخت دی او هر څوک د خپل هنر او ادب د لاری، د خپلی ټولنی او بشريت په خدمت لکيا دی.

له بده مرغه چی زموږ په ګران افغانستان کې هيڅ عالم، فاضل، مسلکی ليکوال يا د بلې هنری برخې متخصص يا مينه وال، له خپل کار څخه ورځنۍ اړتياوې او د ژوند وسايل نشي پوره کولای. دا خلک اړ دي چې بل ځای کار وکړي، معاش وګټی او بيا د خپلې هنري تندې د ماتولو، د عواطفو د تلطيف او د خپلو ظريفو احساساتو د بيان، يا د خلکو د تنوير او په ټولنه کې د فرهنګي ودې په موخه، ځان ته يو هنری- ادبی کار او تخليقی بوختيا غوره کړي او اثار مينځ ته راوړی.

لکه چی هغه پاسنئ غوټه خلاصه شوه. مخکې مې وویل چی دریغی ښاغلي دودیال خپله ټوله پاملرنه، مسلکی لیکنو او د پوهنتون د محصاینو له پاره د علمی مقالو او کتابونو لیکلو ته وقف کړی وای. زه چې د  دودیال ګټور او هیوادپاله ژوند ته ګورم، د افغانستان د اقتصاد د پوهنځیو ګرانو محصلانو ته یې هم ډیر څه لیکلی دی. زما د معلوماتو د مخی، پوهاند دودیال د اووه نیم سوه شااوخوا علمی مقالی او ۸۱ کتابونه لیکلي. په دی کی هغه چی د اقتصاد او د عامه ادارې او پالیسی د پوهنځیو مسلکی کتابونه دی، د ریفرنس حیثیت لری او پوهنتونو کې تدریس کیږي دا دي:

**تالیفات:**

احصائیه، د اقتصادی پرمختیا تیوری، د طبیعی منابعو اقتصاد، د مالی خطراتو مدیریت، منطقوی اقتصاد،  د اقتصادی پروژو تحلیل او مدیریت، صنعتی اقتصاد، د اقتصاد تشریحی قاموس، پولی پالیسی( د ځانګې د دوو نورو اسیستانت استادانو سره په ګډه)، تمویل، دیموګرافی او د نفوسو تحلیل،  اقتصادی پلان جوړونه، د کرنې او صنعت متوازنه وده، اداره او آسانه محاسبه، د سازمانی اړیکو مدیریت، د سازمانی شخړو مدیریت، د چاپیریال ساتنی پالیسی او د ادارې او مدیریت تشریحی قاموس.

**ژباړې:**

 د پروژې مدیریت په عمل کې، د مدیریت علم، د عامه مالی چارو بنسټونه،  کوچنی او تطبیقی اقتصاد، عامه اقتصاد او کوچنی اقتصاد (درې وروستید دوو نورو استادانو سره په ګډه).

د مسلکی علمی کتابونو په څنګ کی، پوهاند دا ادبی اثار لری:

تانده غوټۍ ( د لنډو کیسو مجموعه -۱۳۶۵)، د خریداری هیأت( د طنزونو مجموعه -۱۳۸۶)، د مینې ډالۍ( ناول-۱۳۶۷)، شاهین( د لنډو کیسو دویمه مجموعه-۱۳۶۸)، موږ بیرته خپل کلی ته ځو( ناول-۱۳۹۷) او ګوندې بیا ښې ورځې راشي(ناول ۱۴۰۲/۲۰۲۴).

نو د کندهاریانو خبره؛ د مورشیدې دې سي چې په اقتصادي مسلکي څېړنو، لیکنو او پنډو پنډو کتابونو سربیره، لنډې کیسې هم لیکي.

اوس را ځو لنډې کیسې ته:  لنډه کیسه یوه هنری ښکارنده (پدیده) او د ادبیاتو په نړۍ کې یو خوږ ژانر دی چې نن ورځ ډېر مینه وال لري. لنډه کیسه هغه ادبی لیکنه ده  چې لیکوال د خپل شااوخوا نړۍ او چاپېریال ذهنی واقعیتونه بیرته غبرګ (منعکس) کړي. د غبرګون په دې عملیه کې بهرنی عیني واقعیت د لیکوال له ذهني شتمنی، روانی توکیو(عناصرو)، فکر، خیال او عواطفو سره ګډېږي او یو له بل سره راکړه- ورکړه کوي. له دغې راکړې- ورکړې وروسته واقعیت بیا زیږي؛ خو دا هغه پخوانی تش واقعیت نه، بلکې بیا هستول شوی واقعیت دی.  یوه هنری ښکارنده ده. په بله ژبه  یو انځوردی، یوه سندره ده، یو شعر دی. یوه ننداره ده، یوه مجسمه ده، یوه نڅا ده او د مثال په توګه یوه کیسه ده.

چې خبره ځانګړی کړو؛ لنډه کیسه ( او رومان او ناول) هم یوه هنری ښکارنده او هم  ادبی یو ډولدي. په دې توګه وینو چې لنډې کیسې په ادبیاتو ورګډېږي.

د لنډې کیسې جوړوونکي توکي(عناصر) دا دي: وخت(زمان)، ځای(مکان)، خلک(د کیسې اتلان)، پېښه، خبرې(ډیالوګ)، ستاینه(توصیف) او روایت.  پورتنی توکی د کیسې د جوړیدو اصلي برخی دی او پرته له دغو توکو څخه کیسه نیمګړې او بیخونده بلل کیږي.

ښه کیسه لیکوال، لکه پوهاند دودیال؛ هڅه کوي چې د دې توکو تر منځ دیالکتیکی اړیکې وساتي، کیسه ښه پیل کړي، ښه یې پرمخ بوځي اوغوټه او د اوج ټکی ورکړی او مناسب ځای کې یې پای ته ورسوي.

ځینی پاخه لیکوالان او کره کتونکي وایی :  لنډه کیسه هغه ده چې د یو پیاله کافی(قهوې) دڅښلو په موده کې ولوستل شي. زما په نظ همدومره لنډه کیسه ښایي چې د لیکوال په ذهن کې په میاشتو او کلونو پوخوالي ته ورسي او بیا ولیکل شي.

په بله وینا یوه خبره، یوه پېښه، د فلم کومه صحنه، د طبیعت ننداره، د کتاب کومه پاڼه  یا داسې بل څه، د لنډې کیسې د لیکوال په ذهن کې یوه ډیوه لګوي، بیا د لیکوال د ذهن شتمنی او په راتلونکو ورځو، اونیو، میاشتو او حتی کلونو کې هغه نورې لیدنې- کتنې، پېښې او تجربې چې د هغه لومړنی ډیوې له ځلولو، شتمن کولو او پراخولو سره دیالکتیکی رابطه موندلای شی، ورو ورو د کیسې د بشپړتیا په لور مزل کوي او بیا داسې وخت راورسی چې لیکوال نور ګوښه لټوي چې کیني، قلم او کاغذ راواخلي او کیسه ولیکي!

ما د محترم استاد  دودیال دا لنډې کیسې ولوستې او ارمان راغی چې دریغی پوهاند اقتصادپوه نه وای او ټول ژوند یې موږ ته لنډې کیسې لیکلی وای !

خو شکر چې دودیال هم خپل مسلک کې بوخت دی او هم د پښتو ادب ویړ بڼ ته خدمت کوي او دغه بڼ په راز راز ګلانو ښایسته کوي. هم زموږ د ځوانو اقتصادپوهانو تدریس کوي او علمی آثار لیکي او هم زموږ د ادبي ذوق  د تلطیف له پاره  لنډې کیسې لیکي. کله چې  د لنډو کیسو دغه کتاب خپور شو او خلکو ولوست، بیا به کره کتونکي قلمونه راواخلی او دا کیسې به وارزوي او د استاد په لاره کې به نور مشعلونه کیږدي.

د دغې ټولګې(مجموعې) کیسې ځینی نوی او ځینی آن د ځلویښتو کالو مخکې دي. پخوا لیکل شویو کیسو کې تاریخی حوادث دي. مشهور خبره ده چې وایی: کیسی په تاریخ کې او تاریخ په کیسو کی دی؛ نو د کیسو په لوستلو شاید تر ډیره په تاریخی حوادثو خبر شو. په دی کیسو کې ځینی یی دینی او د مبارک سیرت په هکله، ځینی د افغانانو د آزادی غوښتونکو تاریخی مبارزو او اتلولیو په هکله، یو شمیر زموږ د رنځیدلی ولس د خواریو او زحمتونو انعکاس او یوشمیر پکې د مینې او یو څو پکی د افغانی عالی سجایاوو او عنعناتو بیانوونکې دي. د کیسو راز راز والی د دی ټولکی یوه ځانګړتیا ده. ممکن د دی کیسو تنوع به د وخت اوږد واټن وي چې په دې ترڅ کې لیکوال، د بیلابیلو پېښو لیدونکی او شاهد پاتی شوی دی. شاید په هغو کې ځوان کهول د هیواد د تاریخ ځینی شیبې وګوري.

دودیال ته اوږد  او له برکاتو ډک ژوندغواړم.

په مینه.

آرینزی

متحده آمارت- دوبۍ

۲۰۲۲، د فبروری ۱۶مه

## د آزمــایښـــــتونو آزمــایـښت

## (لقد کان فی قصصهم عبرة لاولي الالباب)

د تل په شان د جزیرة العرب په شګلونو دښتوکې داوښانو اوږد کاروان له یوه پړاوه تر بل لاره لنډوله. کاروانیانو کې چا خجورې بدلولې او چا غنم. د دوی کاروان به کله د خُرما وو د لوړو اواوچتو ونو له خوا او کله هم دبې پایه دښتو او کله هم د شګلونو غونډیو له اړخونو په اوږدو لارومزل کاو . کله به چې د سهار ښښې را څرګندې شوې، نو د شپی د وروستني راڼه ستوري په راڅلیدو به د جرس غږ اوریدل کیده او کاروانونه به روانېدل.

دعربو بیدیایي بیړۍ به له شامه تر مصره، له حمس نه تر یثرب او تردمشق، وادی السبع، فلسطین اوکله هم تر روم سرګردانه وې. حضرت ایوب له کاروانیانو د دغو ټولو سیمو له حاله خبرېد، خوشام تر نورو ملکونو ډېر آباد او معمور و. هغه د اسحاق پیغمبر له او لادونو څخه یو نبي و، میرمن یې بی بی رحمته د یوسف (ع) له درنې کورنۍ څخه وه. قران دغه د قوي ایمان لرونکی نبي ته ( ایوب صابر) خطاب کړی دی.

او ایوب څنګه په صبر او استقامت وآزمایل شو؟ قران عظیم الشان څلور ځایه دا موضوع یاده کړې ده. په ټوله سیمه یوابهت وزرې غوړولې وې، لکه چی بیابان او پیریان او هرهرڅه د بنی آدم دبې مثاله اوسترې قربانۍ ترژورې اغیزې لاندې راغلي وو! هغه چې الله تعالی په هغې سره حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت اسمعیل علیه السلام و آزمایل. او کله چې د حضرت ابراهیم له پښته اوه نسلونه نور را لوی شول، نو په دې کې حضرت ایوب زوی د آموص باید ځان سترې شکیبایي او د صبر د تریخ جام څښلو ته چمتو کړی وای.

حضرت ایوب (ع) هم د پلارګنی له خوا د پیغمبرانو کورنۍ سره پیوست و اود نبیانوله اولادو څخه و. ده لره بویه چی بې شمیره نیک خصایل او پسندیده ممایز ولري، او ترټولو صبور او مشکور اوسي. او دا پرته له آزمایښت څخه نه څرګندېدل.

د حضرت ایوب (ع) واده له بی بی رحمتې سره وشو. دغه بی بی د افراثیم لور وه. د دوی ژوند ډېر خوږ، ښغمه، بی درده او پرته له هر کړاو څخه تېرېد. خدای پاک دوی ته ډېر نیک سیرته او ښایسته زامن او لوڼې ورکړې. د حضرت ایوب علیه السلام په

کور کې د هيڅ شي کمی- کاستی نه و، او دوی هم د الله (ج) په نعمتونو او راحت کې د ذوالجلال ذات شکر ادا کاو...

وخت له وختونو الله تعالی وغوښتل چی د ایوب (ع) صبر، شُکر او قناعت د ده د ناروغی، بیوزلی اوخوارۍ په موده کې هم و آزمايي. حضرت ایوب (ع) باید ځان سختی او له تکلیف او غم څخه ډکې آزموینې ته چمتو کړي !

***

د حضرت ایوب (ع) زامن او لورگانې د خپل کور په دننه کې سره ټول ناست وو چې آباده کوټه بې له کوم توپان او سیلاوه ونړېده. په دغه پیښه کې حضرت ایوب (ع) د خپلو خوږو اولادونو مرگ د سر په سترگوولید. د هغه گران اولادونه چی تر هغه پرون پورې روغ – رمټ او خوښ - خوشحاله وو، نورنو د تل لپاره د خپل مور او پلار سره مخه ښه کوي.

ایوب (ع) ته له هر نعمت غلې- دانې، میوې، مال او هر څه ډک کور پاتې شو، خو اولاد يې نه و. هغه مبارک په ډیر غم ورځې تیرولې چې د ده له هر څه ډک کور اور واخیست او ټول شته د اور د لمبو خوراک شو. هغه او ماندینې ته يې پرته د تن له جامو هیڅ ور پاته نه شول.

دوی د دې شاهدان وو چې له خوارۍ، محتاجی، او کړاوه ډک ژوند سره مخامخ شول. په همدې وخت کې د ده وجود په داسې رنځ اخته شو چې هم يې درد او خوږ ډیر وو او هم نور داسې درانه مشقتونه د ده د تن پوټکي باندې را څرگند شول، چې ډېر تکلیف يې ورکړ، دبدن پوستکی يې زخمي زخمی او په داسې تور او سوربخن رنگ واوښت چی له هر ټپ څخه یی وینې بهیدې.

ورو ورو په ټپونو ژوندي چنجي را پیدا شول. له ده څخه ټولو خپل خپلوانو مخ اړولی و اوچا يې د کور ور هم نه پرانیست. حضرت ایوب(ع) له خپل دغه رنځ څخه ډیر زیات په عذاب او په شرم او درد اخته و. د ده بي بي هم د یوې سل کلنې زهیرې او ناتوانې بوډۍ په شان شوې وه. هغه د ناروغي په حالت کې په ډیرو ستونزو له ځایه خوځېد، آن دا چې دا اندیښنه ور پیدا شوه چې خدای (ج) مه کړه د ده زړه او ژبه په چنجنو ټپونو اخته نه شي چی بیا به د الله تعالی له ذکر او عبادت څخه هم پاتې شي. هر څه يې هېرکړل، چا د دوی خبر نه اخیست په کور کې يې څه نه وو. له دې ټولو سره سره يې په صبر او استقامت عبادات ترسره کول. ډیر سخت

کړاو يې په صبر خپله پېشه وګرځوله. له ټپونو څخه يې وينی- زوې او چينجي ګډ بهېدل، خو ده صبر کړی و. چې تکليف وربانديې له حده زيات شو، نود خپل بی نيازه رب دربار ته يې رجوع وکړه، د الله (ج) دربار ته يې په ډېر عُجز او خضوع، په ډېرو زاريو دعا وکړه:

ٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ .

يعنی : ای زما ربه ببښکه زه په ډېر تکليف او ناروغۍ اخته شوی يم او ته ډېر مهربان او د مهربانو څخه هم مهربان يې. ايوب (ع) خپل رب ته عذر او نياز وکړ چې صحت يې روغ شي چی په صحتمندۍ او پاک وجود عبادت په کامله توګه ترسره کړای شي، نو ويې ويل:

وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ وَعَذَابٍ .

يعنی: ببښکه چی ماته شيطان تکليف او مشقت رسولی. په دې توګه صابر ايوب (ع) له ډېرې ويرې او تواضع د خپل ضرر تکليف نسبت مجازاً شيطان ته وکړ. دی وايي چې ګوندي ما څخه به د شيطان د فريب او بېلارۍ کولو له امله کومه سهوه – خطا ، کبر او  ناشکري شوی وي چې په دې ورځ اخته شوی يم.

او ده دا هم ګڼله چې د ناروغي، بېوزلي او کور د ورانی په وخت کې شيطان  ده ته نوره هم وسوسه ور اچوي. په شپو په ورځو يې د الله (ج) دربار ته زارۍ او دُعاوی وکړې. د الله پاک په رحمت او حکمت سره د نا اميدي، رنځ مشقت او درد په سختو ساعتونو کې د حضرت ايوب (ع) په سترګو کې يو ځل رڼا وځليده، وجود کې يې يو څه متره او قوت احساس کړ د دُعا په ترڅ کې د الله تعالی له لوري فرمان راغی چی:

ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ

ووهه په خپله پښه  دغه ځمکه او راوبه وځي له ځمکې يخه چينه چی پرې ولامبی اووبه څښښې هغه.

ايوب (ع) پښه پر ځمکه ووهله، له ځمکی يخې، رڼې، شفافی اوبه  راووتې. د سترګو د اوښکو په شان د رڼو اوبو چينه جوړه شوه. ايوب (ع) د هغو څخه وڅښلې، وجود يې آرام شو. درد ورڅخه ورک شو په اوبو کې يې ولمبل، ټول ټپونه داسی روغ شول، لکه چې هيڅ پرې نه وو شوي، د وجود درد، سوی او چنجی ټول توی شول.

پیغمبرحضرت ایوب (ع) د خپل عیال، مال روغ رمټ او پریمانه شتو دعا وکړه الله تعالی ورته د سرو زرو درمند مخې ته تیار ورکړ، بل درمند یې ورته د سپینو زرو ورکړ. د ده ښځه بی بی رحمته یې ځوانه ښایسته کړه او د ایوب (ع) بیرته پوره اولادونه وشول او حتا د ده پر کور د سرو زرو ملخان ورېدل ...

« او یاده کړه کیسه د ایوب علیه السلام کوم وخت چی ده سوال وکړ خپل رب ته ... » (*)

---------------------------------------------------------------------

(*) وګورئ: سورة الانبیاء .. ۱۷ پاره ۵ - رکوع ۸۳ آیت او سورة ص ۴۱ – ۴۲ آیتونه

# راديو

له هغه وخته چې زمونږ کلي ته يو زوړ پنجالی موټر ټګ- راټګ پيل کړ، د هغه په رارسېدو به ماشومان د هغه شاوخوا ورټول شول، ځينی به ورځخه وېرېدل، ځينو به له ليرې ورته کتل، ښځې به بامونو ته  وختلې او په حيرت به تللې وې. له دې سره يو ځای ورو ورو د کلي په ډېرانو کې د پلاستيک ټوټه، يو نيم د وسپنې قوطی، ښيښه يی مات بوتل يا د کاغذ ټوټې پيدا شوې، نو دا ټول  زمونږ کلي کې لومړني "عصري او ښاري مصنوعات "وو چې کليوالو ته څه چې آن چرګانو، پيشوګانو او سپيو ته هم عجيب ښکارېدل. کله به چې د کلي چرګانو ډېران کې خلپلې کولې او په پښو به يې يونيم پلاستيک يا ښيښه ولګيده، کټ کټ کټاس نارو به يې کلی په سرواخيست. ورو ورو چرګان او د کلي خلک له دې شيانو سره بلد شول. ماشومان هم دې شيانو سره بلد شول، يو نيم به يو مات بوتل راپورته کړ دهغه په غاړه به يې تار وتاړه، له هغه به يې غوا جوړه او پرزمکه به يې کشوله. بل ماشوم به که کومه د وسپنې ټوټه يا کاغذي قوطی وموند، نو يوبل سره به په جنګ شول هرچا به چې ترلاسه کړ ويل به يې دا زمابکس دی کور کې يې ږدم.

کليوالو ډېر څه نه و ليدلي او نه يې پېژندل. دوی به خپل ډېر ضروري شيان د کلي له يوه ابتدايی دوکان څخه رانيول، يابه لسو-شلو ورځو کې يو قوال يابنجاره راغی څادر به يې د يوې کلا سيوري ته وغوړاو؛ رخت- مخت، تارو ستن، انګشتانه، مرۍ، رانجه مانجه، سلايی او نور بلاوبتر به يې رابرسېره کړل، ښځې به ورټولې وې. دا ساعت به کله کله راغی او د کلي په ښځو او ماشومانو به جوړ اختر و.  زمونږ دکلي اوقي هټيوال به اونۍ کې يوه ورځ ښار ته ته او تېل، مالګه، ګوړه او اورلګيت به يې راوړل. صابون کليوالوپه خپله جوړول. ښوره به يې د کوم مږ شوی څاروي وازګې سره ګډه او هغه لشتيک به يې پکې واچول چې له کوچيانو يې اخيستي و، بيا به يې يوڅه ايره هم ورسره کړه او اور به  يې ورلاندې کړ، يو شی به ورځخه جوړ شو، چې دوی دصابون کار ورځخه اخيست. خو عجيبه ده چې پوره د صابون کار يی ورکاو. زه اوس هم حيران يم چې دا به څه ترکيب و؟

په کلي کې چا پرته له همدې يوه موټر څخه  نور وسايل لکه ټرکټور يا سايکل يابل څه نه وو ليدلي. ورو ورو هغه پخوانۍ دتيلو ډيوې هم بدلې شوې او الکينونه راغلل. په بل ګام کې يو دوو کسانو ساعت هم په لاس باندې تاړه چې خلک به ورته حيران وو. زمونږ يو دوو کليوالو به د بربښنا او اشتوپ کيسې کولې، نور به ورته حيران وو. ميراجان چې اشتوپ ليدلی و، نو ويل به يی:

- هلکه اشتوپ لوګی نه کوي، نه بوټي او لرګي غواړي بس آسانه؛ کوټه کې یې هم لګولای شی اورلګیت ورته که، بربربر لمبې درته کوي! توبه زوی یې مړ کې عجیبه زمانه شوه!

***

منی و. وروسته تر ډېرې مودې مې پلار ښار ته ولاړ. دوه- درې ورځې تیرې شوې. زما پلار ښارکې څو دوستان لرل، په یوه کاروبار کې ورسره شریک شوی و. کله به مې چې پلار وروسته تر څو ورځو ښار ته ته، زما د نیکه به اندېښنه وه، تر ډېره به یې ورپسې دُعاوې کولې. پلار مې درې ورځې وروسته له ښار څخه راستون شو. له تېلو، مالګې، ګوړې، یودرجن پیالو او یوه نوي مسې دیګی سره یوځای یې دوه د صندقونو په شان درانه پیټي هم راوړل. کله یې چې دا ټول په کلا رادننه کړل، نو د مازیګر د لمانځه وخت و، لومړی یې لمونځ وکړ. زما ډېره بیړه وه چې وګورم چې پلار څه راوړي دي. کله یې چې سلام وګرځاو، پلار ډېر ستړی ښکارېد. دعا یې وکړه او جاینماز یې ټول کړ. مور ډېر خوشحاله وو، دوه سترګې مو غوټو اوپیټو ته نیولې وې. هرکله به چې پلار له ښار څخه راته مور ته به یي پتاسې یا نُقل راوړل. دا ډول میوه د کلي هټۍ کې هډو وه نه. مور ماشومان د پتاسو، نُقلواو نخودو په تمه وو، خو پلار ډېر بې تفاوته و. کله یې چې دمه لږ جوړه شوه، نو د غوټو په پرانیستو یې پیل وکړ. مور مې هم ډېره خوشحاله ښکارېده. پلارلومړی د تېلو ټیم رامخې ته کړ، مور مې ژر اوچت کړ او د اوړو له ختېن کندو سره یې کېښود. بیا یې د ډبرې په شان غټه مالګه د میچنې خواسره کېښوده چې سبا مې مور هغه میچن کړي، داسې څه نورې غوټې موټې هم وې، خو مور دغه دوو صندقونو ته کتل چې دا به څه وي؟ په دې کې مې پلار په ډېر احتیاط د هغو په پرانیستو پیل وکړ. مور مې په اریانتیا و پوښتل:

دا څه دي؟

پلار مې خوشحاله انداز کې په کلانکارۍ ځواب ورکړ:

- دا راډیو ده !
راډیو؟
- هو!

زمور خولې له تعجبه خلاصې پاتې وې. پلار مې یو ځل بیا ځان جوړ کړ او په ډېر اتیات یې د یوه کارتن سر خلاص کړ، دهغه له منځه یې نوې رادیو را وکښله. باډۍ یې توره او مخه یې سپینه ځلېده. دوه ګوټکونه او شپږ غاښونه یې لرل. پاس خواته

يې يو کوچنی څراغ درلود، ماګنېله چې دا يې سترګه ده موږ ته ګوري. ورپسې يې دوهم صندوق پرانيست، هغه نو ډېر دروند و. هغه کې يوه لويه څلور کونجه بترۍ وه. په يوه اړخ کې يې څلور کوچني سوري لرل. پلار مې د راډيو مزی ورسره ونښلاو، يوبل اوږد سيم يې د بام ژۍ پورې وتاړه او د هغه سرپورې يې دوه – درې متره جالۍ ډوله آنټن غوټه کړ. راډيو يې چالانه کړه. زموږ خولې له خوشحالۍ او ارېانتيا خلاصې پاتې وې.

په هغه سبا ټولو کليوالو زموږ کورته اريان اريان کتل. دبام پر سر دوه- درې متره آنټن له لرې ښکاره کېد. دشپې ډېرو کليوالو زموږ د راډيو غږ اورېدلی و. د خلکو مبارکي هم هېره وه، خو موږ ته يې اريان اريان کتل، دوی حيران و چې راډيو کوم زمکنی شی دی چې مبارکي يې وويل شی؟؟ ځينې ښځې به راغلې د سُنډې چکن شوي دسمال څنډه به يې پورته کړه راديو به يی کتله، دوی به مې مورته ويل چې يوسات هغه ورته وغږوي، خو راډيو به د ورځې نه چالانېده او نه مې مور دهغې په چالانولو پوهېده. مياشت تېره شوه. د کلي نارينه هم په دې ارمان و چې راډيو وويني. بله ورځ زموږ کور کې لاندی وشو. ټول کليوال مو را ميلمانه کړل. خلکو په درناوي زما پلار سره روغبړ کاو، يو نيم به د لاندي مبارکي ورکوله او د مېلمنو کوټه کې کيناستل. کله چې ماښام ډوډۍ وخوړل شوه، پلار مې د ښار کيسې شرو کړی. اول يی وويل:

- په جاده کار روان دی، غلام مامدخان ويلی چی په يوه کال کی به جاده جوړه شی...

کليوال حيران وو چې جاده څه ده او چې جوړه شي، خلک به څه پې کوي؟ خو هيچا پوښتنه نه کوله چې جاده څه شی دی؟ دا وخت مې پلار لاس اوږد کړ او په تاخچه کې ايښودل شوې راډيو څخه يې دسمال پورته کړ او هغه يې چالانه کړه. کليوال هک- پک وو. راډيو د ويتنام د جګړې خبرونه اورول. پلار مې په دې خبر ډېر غمجن ښکارېد. هغه ړومبنۍ خوښي يې هېره کړه. کليوال ټول چُپ وو. لږ ورسته يې راديو غلې کړه. کليوالو چې زما دپلار خپګان وليد، نو ويی پوښتل:

حاجی صيب دا يې څه وويل؟

- په ييتنام کې جنګ دی. ييتنام نيمه دونيا ده. هلته ډېر مخلوق قتل شو، جګړه لا روانه ده... ييتنام کې غټې غټې ګولۍ ويشتل کيږي بمونه يې بولي... ييتنام ... يتنام...

کليوال هم خپه شول چی ولی د خدای مخلوق قتل کيږي؟ د لاندي خوشحالی هيره شوه. يو چا وپوښتل:

دا ييتنام کې خلک ولې جګړه کوي؟  دوی څه بلا وهلي؟

پلار مې ورو وويل:

- بس هسې روزګشتګي. بلا چې نازله شي همداسې وي !  نيم مخلوق تباه شو، هسې خوشې.... هلته يوه لويه کربلا جوړه شوی... ييتنام...روزګشتګي ....

او خلکو توبه ايستله؛ خدای (ج) دې په چا داسې بده روځ نه راولي...

په هغه سبا په کلي کې هرچا زموږ د راډيو په هکله خبرې کولې، ټول دې نوي شي ته حيران وو. پلار به مې پرلاره، پيتاوي، جومات، د ميلمنو کوټه او هرځای کې د ويتنام د جګړې خبرونه خلکو ته ويل او خلکو به له دې بدې ورځې توبې ايستلې. هرماښام به زموږ نږدې ګاونډی غوږ غوږ و چې زموږ د راډيو غږ واوري. پلار به مې دشپې هم راډيو اوربده او سهار به چې کله له لمانځه راستون شو، نود راډيو قرائت ته به غوږ و. کله به چې د راډيو قرائت خلاص شو، نو بيا به يې خپلې تسپې را کښلې او ترځنډه به يې وظيفه کوله. دکلی  هلکانو به ماته په حسرت کتل. په دې توګه دوه اونۍ نورې هم تېرې شوې چې زما د مور د ترورزي د واده سرشته ونيول شوه. دهغوی کور زموږ سره په ګاونډ کې و، يوازې يو ديوال ترمنځ و.  مور مې د ښځينه چارو او ښځينه مېلمنو واکداره وه، د زوم د کور له ښځګلې سره همدا زما مور وه ځکه هغې همدا يو ترورزی درلود. واده ته ډيرې ښځې راغلی وې. نارينه د کلي ميداني کې ټول وو. د ډم له ديګونو څخه لوګي ختل، د ماښام د ډوډۍ  تياري نيول کيده، په انګړ کې لوی لوی ټغرونه هوار شوي وو او شاوخوا يې نالۍ پرتې وې. مشرې ښځې پر ناليو ناستې وې او پيغلو چمبه وهله،  دوه دريو ګډا کوله، يو څو نورو بدلې ويلې او رنګارنګ سروکي او ټيکۍ يې پکې اچولې، درنګ درونګ و. د ښځو غږ زوږ و. دې کې يوې کليوالې زما مورته وويل چی يه خورې! هغه راډيو دی مجلس ته راوړه  کنه. مور مې په ډير غرور ورته وويل: بده خو دې ونه ويله. او له دې سره په منډه کور ته لاړه. پلار مې همدا ګړی له ميلمنو څخه راستون شوی و چې مور مې د راديو ورته وويل. پلار می زړه نازړه ښکاربد، خو د مور د ټينګار له کبله يې ورته وويل چی سمه ده راديو يوسه خو چی څوک ګوتې پرې ونه وهي! مور مې د واده د کور په انګړ کې په غوړيدلو ټغرونو يو غټ بالښت کېښود راديو يې پرې کيښودله د کلي د ډم نوي ځلمکی زوی چی د کلي د کورونو (محرم) ګڼل

کېد، د ښځو منځ کې د راډيو يو من درنه بطرۍ په خواريو خواريو راوړله او له اېښودل شوی بالښت سره يې کېښوده، بيا يې د ديوال له سره دآنتن مزی راواړاو. مور مې راډيو چالانه کړه. زړې ښځې ووېردې لرې شوې، پېغلې زړورې وې ، په احتياط راډيو ته را لنډې شوې. لږ شېبه وروسته نورې پېغلې هم زړورې شوې. د رادوی په کتلو وار نه و، هرې يوې د بلی نه ځان مخکی کاو. راډيو خوږه سندره بلله:

د منګی غاړه يې شنه لمن يی سپينه ... بل په غاړه يی ځنګيری تاويزونه که نه ... دمنګي...

د ناليو پر سر ناستې سپين سرې ښځې هم را وړاندې شوې وې. ټولې د راډيو څخه چاپيرې وې. راډيو د ښځو منځ کی په يو نوي بالښت اېښودل شوی وه، خوا ته يې غټه بترۍ اېښې وه، پېغلو خپلې چمبې پريښې وې اوټولو د راډيو سندرې ته غوږ نيولی و.

د منګي غاړه يې شنه لمن يی ...

مور مې چې لا پخوا د واده واکداره وه اوس بالکل هسکه غاړه ګرځېده او راډيو ته يی په خاص غرور کتل، آن دا چې يوې نيمې ښځې ته يې د اتيات او پام کوه اخطار هم ورکاوه. شور زوږ په زياتيدو وو، خوشحالي وه په اوچت غږ خبرې او خنداګانې وې، مور مې ډيره بوخته وه د ميلمنو ښځو پالنه، د ناوې د کاليو برابرول، د لوښو پاکول، چای برابرول او هر څه ور تر غاړی وو ... همدا وخت وو چې د يوې پيغلې پښه د راډيو په مزي پورې ونښتله او راډيو يې د بالښت له سره په بل مخ واړوله. مزی د بترۍ څخه ووت چوپ چوپتيا شوه، ټول غلی شول. شورزوږ آرام شو لکه چی لويه ټکه لويدلي وي. مور مې په بيړه راغله ځان يې راورساوه له وارخطايي او خپګانه يې لاسونه رېږدېدل چې دا وخت مې پلار د ديوال له هاخوا غږ وکړ:

ــ راوليږئ راډيو راوليږئ !

هی خدای مو ... !

کله چې د کلي د ډم ځلمکي زوی راډيو او دهغې درنه بترۍ اوچتوله ټول واده په لوی غم بدل شوی و. مور مې په خاموشۍ پاځېده او په خپګان د ډم زوی پسې د کور خوا ته روانه شوه کله چې کور ته ورسيدلو پلار مې ډير په غوسه وو. د ډم د زوی تر مخ يی زما مور وترټله او ټوله ملامتی يی پرې واچوله. د ډم زوی ته يی هم ښکنځلې وکړې، راډيو يې بيرته د اوبدل شوی دستمال شاته کېښوده او مور ته

مې وویل چی نور د واده والا کور ته لاړه نه شي. مور مې د خپل ایکی یواځیني د
تره زوی واده ته لاړه نه، مور ټول د پلار له ویرې غلي وو.

## په څټ شوی کاروان

مدیر صاحب سر بلندخان کلونه کلونه چم- ګاونډ کې یو دروند او با وقاره سړی و. هغه په خپل وخت کې په پینځو کې شمیرل کېده. هغومره چې د لوړ نوم خاوند و، هغومره خاکسار، پوه، غمخور او زړه سواندی هم و. هغه د خپل زوی صابر جان ښه تربیت او تعلیم کې ډیرې خوارۍ وکړې؛ شپاړس کاله یې ښوونځی او پوهنځی پرې ولوستل او بیا یې بهر ته ولیږ. کله چې صابر جان بېرته هیواد ته راستون شو، نو خلکو به ورته ( اینجینیر صاحب) ویل. هغه د (جیودیزی او معادنو) څانګه کې عالي دیپلوم درلود. کله چې صابر جان په کار ودرېد او د معادنو څانګه کې تر مدیریت پورې ورسېد، نو پلار یې ډېر ورته خوشحاله و. هغه به یې تل خدمت، صداقت او د وطن چوپړ ته باله. صابر جان هم د ریښتیني خدمتګار په توګه خدمت کاو او ویل به یې چې ما پوره نولس کاله خوارۍ وکړې، نو اوس چې د وطن د آبادی کار راته سپارل شوی، خپل پور به اداء کوم. هغه له کار څخه نه ستومانه کېده. سهار سهار به یې سایل ټستنګ شیټونه، نقشې، لیول او لیومان اخیستل او خپل کار ته به رهي و. یوه ورځ یې هم کار نه قضا کاو. خو یو وار په وطن سپېره بادونه را ولګېدل. په هر ښار، هر کلي او کور کې اورونه بل شول. وطن سور تنور شو ... هر لوري ته ټوپک والا و او هوا- فضا ګولیو- مردکو نیولې وه. جګړو زور ونیو، خلک له کارونو وزګار شول په هر سړي کور- اور ودرېد، ډیر خلک مهاجر شول، کلي تش او ړنګ او ښارونه کنډواله شول. خونې تالا شوې او درانه خلک سپک شول.

صابر جان هم له کاره وزګار شو. څه یې چې کور کې وو، درې- څلور میاشتې یې پرې تیرې کړې. نور نو اریان وو چې خپلو ماشومانو ته یو کپ ګوله څرنګه پیدا کړي. له یوې خوایې خپل نولس کلنې خوارۍ او له بلې خوا یې د پلار دروند نوم اجازه نه ورکوله چې چاته د پور اخیستو لاس ونیسي. څومره یې چې پرځان سختي وزغمله بله چاره یې ونه موندله. ماشومانو یې له ده څخه یوه مړی سپوره ډوډۍ غوښتله. په پای کې یې کور کې سلا وکړه؛ یو څو پیسې یې پور کړې او یوه کراچۍ(رېړۍ) یې پرې رانیوله. په لومړۍ ورځ یې څه سابه پرې بار کړل سیده یې د بازار پر لور وخوځول. هلته ډیرې نورې کراچۍ هم ولاړې وې. چا سابه، چا پیاز او چا هم ټیپر پلورل. هرې کراچۍ ته څوڅو تنه پیریدونکی ولاړ وو. بازار ښه تود و. خو د کراچیو شاوخوا ډیرې ناپاکۍ پرتې وې. صابر جان کراچۍ ودروله او دهغې شاوخوا په پاکولو یې پیل وکړ. ټولې ناپاکۍ یې ټولې کړې او یو څه ورانډې یې د خځلو ټیم کې واچولې. دا وخت لمر ښه پورته لوړ شوی و. هغه خپلې کراچۍ سره غلی ودرید شاوخوا یې نظر وکړ. د نورو کراچۍ والاوو شور زوړ و:

- کیلو په یو نیم زر، یو نیم زر...!
- هله هله ! لیلام لیلام !
- چارک دوه زره دوه زره ...

په سړک ګڼه ګوڼه وه. صابر جان اریان و. هغه خو په ټول ژوند کې په اوچت غږ نارې نه وې وهلې! یو یو ځل به یې لارویو ته وکتل، خو ژربه یې بیرته سر ښکته واچاو اوله دې ویرې به ځمکې ته ځیر و چې کوم بلدي او آشنا ورسره مخامخ نشي! که چیرې یې کوم پخوانی د ټولګي انډیوال یا د دفتر کوم کارکوونکی ورسره مخامخ شی، نو هرومرو به ورته وایي چی انجنیر صاحب نولس کاله دې زده کړې وکړې آخر سابه هم نشی پلورلی؟! همداسې اریان ولاړ و، خو شاوخوا نور ټول کراچۍ والا په خپلو کارنو لګیا وو. چا چنې وهلې، چا د خپلو پیازو او پټاټو صفتونه کول، چا قسمونه خوړل او چا هم په مړاویو شویو سبو اوبه شیندلې. هر یو خپله سمه نیمه (متاع) پلورلې وه. دا وخت لمر د آسمان  نیمایي ته راغلی و. یو ځل یې بیا سترګې پر مخامخ لویه ودانۍ ولګېدې. دا ودانۍ پخوا دولتي اداره وه، اوس یې د دروازې مخې ته یوه لویه ډله وسله وال ناست وو. غوړپکولونه یې پر سرونو او برګ دسمالونه یې په غاړو کې پراته وو. هغوی یو لوی میز راکښلی و او خپلې رنګارنګ وسلې یې داسی کتارې پرې درولې وې چې د ټولو منښوکي لارویو ته پر یوه لوري برابرې وې. د دفترپر میز ښې ډیرې خاورې او ګردونه پراته وو. شاوخوا پریمانه کاغذونه، کاربن پیپرونه، د سنجاقو تش قوطي، دوسیې او څه کاغذونه او پاڼې خورې وې چې بادونو په یوه او بله خوا شیندلې. وسله وال په هغه لویه غالۍ چې د لویې ودانی له دفترونوڅخه یې راکښلې وه، کېناستل. درې-څلور تنو لوی لوی دیګونه راوړل او د ډوډۍ په خوړلو یې پیل وکړ. د وسله والو تور او ناولي لاسونه تر متو غوړ او له دیګیو یې څه رااېستل او خولې ته یې اچول. صابر جان انګیرله چې یوه دیګ کې به غوښه، بل کې وریجې او بل کې هرومرو سابه دي. کاشکې سهار وختي وسله والو د ده سابه پیرودلي وای!! بیا یې خپلې کراچۍ ته وکتل سابه په مړاوې کیدو وو. یوځل یې زړه کې وګرځېدل چې کاشکې وسله وال دی ډوډۍ ته ور وبولي! ده خو سهار هم څه نه و خوړلي او تر اوسه یې د لسو روپو سودا هم نده کړی. نورې کراچۍ په تشیدو وې. هغه یو ځل بیا لوی ښکلي میز ته وکتل چی له سپیرو خاورو ډک او وسلی پرې ایښی وې. د لویې ودانۍ دفترونه تش شوي وو. د دفترونو غالۍ ته یې وکتل چی ډیره بې دوده خاورو کې پرته ده. د دفترونو ښیښې ټولې ماتې شوی وې او یوه کړکۍ هم روغه نه وه پاتې. پنډ پنډ کاغذونه هره خوا تیت و پرک پراته وو. صابر  د خپلو شاوخوا پاڼو څخه یو څو را پورته کړې هغه یې ولوستلې: یو- دوه یې د بیلانس پاڼې وې، څو نورې د مامورینو د سوبتیا د کتاب پاڼې وې... دا وخت نورې کراچۍ تشې شوی وې، یو بل پسې کورونه ته تللې.

لمر په غړغړ و. سړک کې د خلکو ګڼه ګوڼه نه لیدل کېده، بازار تړل کېد، د مدیر صاحب سربلند خان زوی خپلې کراچۍ ته وکتل چې نور نو سابه مړاوی شوی وو او یو څپک خاورې ورباندې پرتې وې. کراچۍ یې لری چیرته تشه کړه او د کور په لور رهي شو. نن یې د یوې روپۍ سودا هم نه وه کړې، د پور پیسې ټولې په اوبو لاهو شوي دي. په هغه سبا هم د صابر جان سودا ونه شوه بیا هم د پور پیسې په اوبو لاهو شوې. هغه ته د نارو- سورو چل نه و یاد نه د چنو وهلو، نه د قسم خوړلو او نه یې هم د صفت کولو لارې زده وې. په درېیمه ورځ هم د جیودیزی او معادنو د دیپلوم اینجینیر کراچۍ پرته له دی چې څه ګټه وکړي مخ په کور رهي وه. شاوخوا نورو هټیوالو او کراچۍ والاوو چی کله خپلې تشې کراچۍ روانولې، نو یو بل سره به یې ځُق ځُق وکړ او یوبل ته به یې ویل:

ــ ریښتیا چې هر سړی خپل کارلره پیدا دی!

او بل به ویل:

ــ نه وروره، ریښتیا خبره خو دا ده چې کاروان په څټ شوی !

# د کیسو له ګنج څخه

د کابل ښار جنوب ختیځ لوري  ته د ګڼو کلیو- کورونو او شنو کروندو په سر پورې د غره ډیره هسکه څوکه لکه دتاریخ دکیسو او افسانو د ګنجینې په شان په ابدي شوکت سره له ورایه ښکاري. کله چې د ختیځ له لوري سهار سهار لمر د ساپیو له غرونو څخه را هسک شي، نولومړنی زرینې مراندې یې پر دغو څوکو لویږي او ورو ورو د ورځې د طلایي اطلس لمن له دې ځایه پر ټول ښار او سیمه وغوړیږي. دغه څوکه (شاخ برمته) نومیږي.

شاخ برمته د کیسو ګنج او دهغې دلمنو شاوخوا ټولې سیمې د تېرو شویو کیسوشاهده ده. شاخ برمته ته د زرګونوکلونو پخوانۍ کیسې یادې دي او د وروستیو کلونو کیسې خو یې بیخی نوې دي. دخوردکابل، سنګ نوشته، سهاکو، شېواکو اوبُتخاک ټولې کیسې یې په یاد دي. شاخ برمته ته د (بُت) د (خاک) کیدو کیسه، دسهاکو او شیواکو د درندو تېرونو او جباربابا د کوچ او مېشته کېدو کیسه او د افغانانو له لوري په دغه سیمه کې دپرنګیانو د پوره ماتې کیسه ټوله ورپیاد ده  او دا کیسه هم ښه ورته یاده ده چې (سنګ نوشته) چا لیکلې او څه یې پرې لیکلي وو؟

خلک به د دغو کیسو په هکله هرڅه هرڅه وایي، خو د کیسو اصلي ګنج شاخ برمته دی. شاخ برمته د سیاه سنګ او بالاحصار دتاریخ شاهد هم دی او له هماغو لرو ټوله سیمه د تاریخ د شاهد په تو ګه څاري. برمته یواځې د جنګ - جګړو، کاروانو، کښتونو، ناخوالو او خوښیو،ماتواو بریو،ګټو او تاوانودکیسو شاهد نه دی، هغه د مینې دکیسو شاهد هم دی.

شاخ برمته ته څېرمه د سویل پرلوري د (درې سرو) غر پروت دی. د دغه غره لمن کې له سنګ نوشتې لږ پورته یوه ښکلې دره لکه د ناوې په طلایي ګوته اوپسولونو کې شین غمی ښکاري چې د روان سیند د دوو خواوو لوړو چنارونو، سنځلو او شنو بوټو یې هوا اوښکلا څوواري زیاته کړې ده. که هرچا یوځل د دې سیمې د ولې سیوری، د سنځلې د ګل عطر، د ګلاب ښایست او دچنار قد لیدلی، نو بیا یې دطبیعت دغه له کیفیت څخه ډکه منظره نه ده هېره شوې. داسې ښکاري چې دشاخ برمته او درې سرو دغرونو پر سر پورې هسک الوتونکی ګُربت هم د دې ښکلا د سِحر برمته دی، نوځکه تل په دغو لوړو څوکو پرله پسې کړیو کې دورې وهي. د شاخ برمته او درې سرو په لمن کې د (ګُلدرې) کلی د ښایست بل نوم او د (مین خېلو) کلی د عاشقانو د تبار او نسل څخه د مینې سمبول دی. څوک څه خبر چې د مین خیلو نوم معین خیل دی او که مین خیل؟ خو خلک هرڅه او هر

کیسه پرله پسې تکراروي او په دې هم څوک نه پوهیږي چې دمین خیلو د مینتوب کیسه به شاخ برمته په څه ډول زړه کې ساتالي وي، خو هرڅوک په دې هکله کیسې کوي:

د مین خیلو نیکونه او غور نیکونه د ګُلدرې او کاریزونو شاخوا اوسېدل. کلونه کلونه پخوا په دغه ځای کې یو بوډا کلیوال کروندې درلودې او په پسرلي کې به یې د سیسیو، زرکو، سارایی کوترو او غرڅو ښکارهم کاو. دهرکال په پسرلي کې به چې دغرو لمنې له رنګارنګ ګلانواو شنېلیو وپوښل شوې، نو له پورته تړو او کمرو به د زرکو نارې د چینو د روانو اوبو له غړسره ګډېدې او یوه خوږه نغمه به یې جوړوله. د غره له سیورلنو ډډو څخه به د سارایي کوترو یو سېل په شنو کروندواو ورشوګانو راشیوه شو، لکه د حسینې پېغلې امیل چې دهغې پرلمن دانه دانه شي. غرمه غرمه مهال به د کاریزونو د سیمې دچینو اوبو ته غرڅې را کوزېدې. ښکاري بوډا به دا وخت د ښکار په تمه چینو ته نږدې راته.

د طبیعت په دې رنګینو کې؛ د رڼو چینو، غرنیو ګلانو، ښایسته غرڅو، سارایي کوترو،پسرلنیو زرکو سره یوځای قد دچنار، بوی د سنځلې، ګل د ګلاب او سیوری د ولې  هم د ښایست او خوبۍ یو ابهت و. له دې ټولو سره دلته یوه د کوه کاف پري هم اوسېده.دغه د کوه کاف پري چې په ښایست کې بی جوړې وه، د ښکاري بوډا پېغله لور وه. د ښکاري بوډا لورپه دغه ښایسته محل کې د کوه قاف پري وه او سیوری یې د باګرام د ترکو تصویر. دهغې دڅنو ورم مشک خُتن، د سینو ریږدېدا یې د بنګو غوټۍ او د سترګو ادا یې د زړو شرابو نشه وه. هغه به ځینې وخت دسبو ټولولوټولپاره د پلار کروندې ته او ځینی وخت به د اوبو وړلو لپاره د چینې د اوبو غاړې ته راتله.

... او د پسرلي په یوه سندریزه ورځ کې د کلي یو زلمی د بنګو غوټیو، د مشکو ورم او یوه بېسده خمار دچینې په لوري راکاږه چې دعشق د جنون په زانګو کې یې وزنګوي. دا وخت پري د اوبو وړلو لپاره د چینې غاړې ته راغلې وه. تږی زلمی په تنده تنده کې په تلوار د چینې په لوري را نږدې کېد، شاخوا د زرکو نارې او د چینې د اوبو نغمه خوره وه. زلمي لا  وچې شونډې په چینې نه وې ایښي، چې د کوه قاف دپري د جمال مجذوب شو. دزلمي سترګې دپېغلې له نظر سره وجنګېدې، وجود یې د ښکلا د برېښنا لمبې تود کړ، تنده ورڅخه هېره شوه. د کوه قاف د پري زړه هم وریږدېد او لکه د سیلاب وړې په شان یې اندامونه سست شول او ځان یې ناآشنا څپو ته وسپاره. له همدې شیبې د دوی ترمنځ یوه بې شانه مینه ورځ په ورځ زیاتېده. چینه د هغوی د لیدو- کتو ځای و. دعشق او مینې خالق د دوی په زړه

کې د یوې ریښتنې مینې ډیوه ولګوله؛ د یوسف - زلیخا، لیلا- مجنون او ویس- رامین په شان یوه ریښتنی مینه.

چینه د دوی د رازونیاز شاهده شوه، کله به چې زلمي د چینې پرغاړه شیبې شمېرلې او د ښایست دپري د راتلو په تمه به و، نو د هرڅه آوازونه به چُپ وو. د پري په رارسېدو به زلمي دهغې پرزنګون سر کېښود، د هغې ګڼ پیکي به ورباندی یو چتر جوړ کړ او د بڼو هر وار کته پورته کیدو به یې زړه سپک سپک ځان سره راکښود.

د زلمی له سترګو خوب تښېدلی و او هغه شیبې به یې چې له خپلې درخو سره تېرولې، دومره لنډې ورته ښکارېدې لکه لنډه پرامښکی! کله به هم داسې یو بل کې ورک وو چې ورځ به ماښام شوه، خو دوی به پوه شوي هم نه وو. ورو ورو د کوه کاف د پري پلار شکمن شو. له غوسې کور- مالت ورباندې سور تنور شو. دغه ناخرګند شک دونیا ورته تنګه کړه او غیرت یې لمبه لمبه شو. ډېر ځار یې وکړ، خو په هیڅ شي پوه نشو. ښکاري بوډا ځان سره لوړه وکړه چې که چیرې یې د لور قدم بیځایه ولید، نو د غرنیو غرڅو پرځای به د ښکار غشي د لور پر ټټر ږدي. دحسن ملکه او د ښکلا ښاپیری دخپل پلار په شک نه پوهیده.

***

غرمه تیره وه، د تږو او کمرو له لرې ګوټونو د زرکو آوازونه راتلل او د چینې پر سر پورې د کوترو خېلونه تېر شول. دچینې اوبه مخ ښکته رڼې اوبیواکه بیواکه د خوړ په غیږ کې جاري وې. له هغو څخه یوه موزونه، نرمه او خوږه نغمه اورېدل کېده. بوډا ښکاري د خوړ خوا کې یو پناه ځای کې غلی کېناست. لکه چې ریښتیا یې هم د شک او بدګماني غشي د خپلې لور دټټر د سوري کولو لپاره په لیندۍ کې ایښی وو؟ مازیګر په تېرېدو و، دا وخت به نجلۍ له چینې اوبه وړې، بوډا نور هم سترګې په لاره شو. د مازیګر دلمر وروستۍ مراندې ټولېدې چې یوه سپکه ښکالو یې واورېده، ښه ځیر شو، یوخه آشنا غوندې ورم یې احساس کړ. ګړب شو او زړه یې وښوېد؛ شکمن ښکاري ځیرځیر هاخوا دېخوا کتل، خو شک یې په یقین نه و بدل شوی. دچینې خواته دوه مین زړونه ګام په ګام یو بل ته نږدې کېدل. دښکاري زړه شکونو په درزیدا راوستی و. هغه لا د وخته غشی لیندۍ کې ایښی و. پوخ ښکاري څخه توره شپه کې هم نښه نه خطا کېده. هغه ډېر ځله د باد په شان د چټکو هوسیو زړونه ویشتي وو. دهغه له لیندۍ څخه کلونه کلونه له ډېر لرې هم نښه نه وه خطا شوی. ښکالو رانږدې کېده چې دښکاري شک په یقین بدل شو او غشی له لیندۍ والوت.غشی لا تر نښې نه و رسیدلی چې دښکاري تر نظر

هرڅه ورک شول. لکه چې دهغه سترګو او غوږو هیڅ هم نه لیدلي او نه اورېدلي. ښکاري له ځایه پاڅېد، شاوخوا یې هرڅه ولټول، هیڅ یې ونه لیدل.

د روانو اوبو خواته دوه سارایي ګلان یو بل ته مخامخ نرۍ نرۍ وړمې به اختیاره کاږه واږه کړل. بوډا هرڅه ولټول، څوک یې ونه لیدل...

***

په هغه سبا هم د اوبو ترغاړې دوه سارایي ګلان یوبل ته مخامخ نرۍ نرۍ وړمې ښورول، کله به سره نږدې شول اوکله به یې ځانګونه خواره واره شول او نرۍ نرۍ وړمې به بی اختیاره کاږه کړل. د دوی شاوخوا پرته د بوډا د پښو له پلونو څخه نور هیڅ پل نه ښکارېد. د دواړو ګلانو یوې اوبلې خواته د پلنوپلنو پاڼو غرني بوټي ښکارېدل.

***

... او د هر څه پته دکیسو ګنج، شاخ برمته ته څرګنده ده. خلک هر څه وایی؛ ځینی وايي چې دا وخت دوو مینانو خپل مازیګرنی دیدن کاو، کله چې له لیندۍ څخه الوتی غشی دبرېښنا په څېر د پري زړه ته نږدې کېد، نوهغوی دواړه دګلانو بوټي شول او د مینې خالق دهغوی پر پلونو د پلنو پلنو پاڼو غرني بوټي راشنه کړل. نن هم هرځای چې دغه دوه ګلان یو بل ته خوا پرخوا نرۍ نرۍ وړمه کړوي، دهغوی ځانګې بې اختیاره خوځوي، نو خلک وایی چې دا دوه مینان دي او هرځای چې د پلنو پاڼو غرني بوټي وي، وايي چې دغو بوټو د مینانو پلونه پټ کړي دي. ځینې بیا وايي چې دغه دوه مینان یو دبل وصال ته ورسېدل او نن‌ني مین خیل دهغوی اولادونه دي، نوځکه ورته مین خیل وايي. د هرچا کیسه ځانته ځانته ده او یو دبل نه مني. رینښتنی راز یواځې دکیسو ګنج ته څرګند دی. دکیسو ګنج د رزمونو، دردونو، غیرتونو، یرغالونو، تالانونو، سر لوړیو او هرڅه څخه خبر دی، نو د مینې او وصال، هجر او بیلتون او آرمانو کیسې هم ورسره دي.

## شهید ورونـــه

د کابل ښار جنوب لوري ته، کله چې د پخوانی لاهوری دروازې څخه تېرشئ او نور هم جنوب لوري ته وړاندې څئ، نو د تاریخې بالاحصار ختیځې دروازې ته رسیږئ. له دې ځایه چې نور هم جنوب خواته روان شئ، دسړک خواسره یوه ویاله ستوی رابهیږي چې دغه ویاله پخوا د استقلال ترجادې پورې راغلې وه او په پای کې له پُل محمودخان سره د کابل سیند سره ګډېدله، هغو کلونو کې به دغه ویاله ډکه بهېدله.

د ښار جنوب لوري ته دغځیدلي سړک دوو خواووته د همدغې ویالې تر غاړې د ښنګو د زیږو ونو یو کتار ښکارېد، خو اوس یې شمېر ډېر لږ پاتې دی.

د ملک نور سرای څخه لږ ورتېر؛ دسړک ښي لاسته د یوه ډېر پخواني زیارت له پاسه څو جنډې په رپیدو ښکاري. دغه ځای کې درې قبرونه یوبل سره نږدې دي، چې اوس د ګنې –ګوڼې له امله نه ښکاري. د قلعچې خلکو به دغه زیارت ته د درې شهیدو ورڼو زیارت ویل. دغه زیارت د ډېرو پخوا وختونو کیسه کوي، آن د سلو کالو پخوا کیسه ! دهغه وخت کیسه چې پر وطن باندې مو پرنګي یرغل کړی و او د ولس قبضه کول یې غوښتل، خو افغانانو د خپل وطن د ساتنې لپاره خپل ټټرونه سپر کړل، د وطن خاوره یې له پردیو وګټله. دغه زیارت هم دهغو دریو وروڼو دی چې د استقلال دبیرته ترلاسه کولولپاره د ننیګالو ولسي لښکر سره یو ځای شوي وو. دوی یواځې یوه سپین سرې مور لرله. ته به وایی چې مور خپل دغه درېواړه زامن د وطن د لارې سترې قربانی ته روزلي او لوی کړي وو.

او په هغه ورځ چې دغه درې وروڼه غزا ته تلل، نو مور یې یواځې له نیمکښې دروازې تر لنډې ټوټې لارې ورپسې وکتل دعا یې وکړه، بېرته ستنه شوه او په کور کې کیناسته.

زیارت د سلو کالو پخوا کیسه کوي، جنډې د درېو وروڼو کیسه کوي، د تاریخی بالاحصار لمن د ځلمو د شهادت کیسه کوي:

***

۱۸۷۹ میلادي هغه کال و چې پرنګیانو پر افغانستان د دوهم ځل لپاره یرغل راوړی و. داسې ښکارېده چې دا ځل د هیواد د جنوبي سیموپه پرتله هغوی ته د هیواد مرکزي سیمو ډېر اهمیت درلود. جنرال رابرټس هغه پرنګی جنرال و چې ځلوېښت

زره لښکر سره يې آسمايي غر تصرف کړ. د رابرټس لښکر د آسمايي غره مورچې ونيوې، نيمو نورو يې شيرپور کې چاوڼۍ جوړې کړې. له بلې خوا يې خپل دتُتخاک ځواکونه او په ګندمک کې دجنرال ګلف فرقه شيرپور ته راوغوښتله. په دې کې ګورکه اجير سوږر اوپنجابی حشري هم وو. ملی مبارزينو او ننګيالو د کابل او د کابل په شاوخوا کې د غزا او خپلواکۍ غوښتنې جنډې ورپولې. ملا مشک عالم او محمدجانخان وردک لومړی د جهاد اعلان وکړ او له ولسي لښکر سره مخ په کابل را وخوځېدل. له شمالی څخه محمد عثمانخان ساپی او محمد شاه خان په کابل راننوتل. دا وخت د انګريزانو د توپونو ميلونه د مبارزينو خواته اړول شوي وو او په بارتو يې ورته ګونډې وهلی وې. دوی آن د خپلو آسونو وربشې زيرمه کړی وې، په وسله ښه سمبال وو. کله چې په دې پوه شول چې د ننيګيالو ولسی لښکر مخ په کابل راغی او د کابل ښار ته ننوځي، نو له خپلو چوڼيو څخه ووتل او په ښار يې غلبله جوړه کړه، د کابل ښار ډير وګړي يې له تيغه تېر کړل. محمدعثمانخان ساپي او ډير نور غازيان شهيدان شول. د ښار اوسيدونکو به دشپې د جګړې لپاره تياری نيوه او سپېده داغ کې به يې د هرې کوڅې له هر سر څخه د تکبير آوازونه اوچت وو. په دغه وخت کې د لوګر مبارزين له غلام حيدرخان څرخي سره د کابل له جنوبي لوري مخ پر بالاحصار وړاندې راتلل. د هغوی د راتګ په لاره کې د ولسي لښکر د لا پياوړي کولو او د خپل فرض د ادا کولو په خاطر، له هر کلي څخه ځلميان دوی سره يوځای کېدل.

***

تود اوړی تېر و، د مني شپې - ورځې وې، د لوګر د سيند اوبه خړې شوی وې او سيند د ژيو تر نيمايی بهېد، دوو خواوو سره يې د لوړو چنارونو پاڼې په ژېړېدو او رژېدو ښکاريدې، دکليو د کورونو دتيټو بامونو پر سرونو ژېړ جوار د وچولو لپاره اوار وو، سنځلې په پخيدو وې، کليوالو په کورونو کې وچ توت په انډيو کې اچولي وو. دوی په چاودلو پوندو او سپيرو خپرو دمني د غنمو د کښت لپاره دپولو کونجونه وهل او ورخونه يې تړل چې د غزا چيغه شوه، هغوی ورخونه همداسې پرېښودل او يومونه يې ولاړ ودرول، له ولسي لښکرسره په چيغه ووتل. چا تبرونه، چا ملخي او دانپور ټوپکونه واخيستل او د تکبير نارې اوچتې شوې.

د کوچني کلي د خړو او ختينو کورونومخکې کوچنۍ دروازه چې سپېرې او غټې دړې يې درلودې، په لخک کې تاو شوه او درې ورونه پرله پسې سره راووتل. هغوی په غبرګه خپلې يواځينۍ مورسره خدای پاماني وکړه او د مبارزينو له لښکر سره ستوي شول.

ولسي لښکر لومړی په اتڼ او د ډولونو په غربهار او درزهار کې د کلي میدانی ته ووتل، سره راټول شول او ورپسې یې د ټوپکو شپیلۍ آسمان ته سیخې کړی، یو یو درز واوریدل شو. ورپسې د رابرټس لښکر سره برید ته وخوځېدل. دا د کابل له جنوب لوري د کلیو ولسي لښکر و چې وړاندې ته. له مستو قدمونو څخه یې یو ګرد هواته پورته کېد، د دوی څه دپاسه دوه سوه تنه د بالاحصار په ټېټه لمن کې خواره وو، نور یې له دې نه هم د ختیځ لوري ته تیت شول. له دې ځایه وروسته دوی په زغرده وړاندې نه تلل، ځکه چې په دوی باندې د پاس له خوا څخه د انګریزی لښکر د وسلو ګولۍ راوریدې. دوی غوښتل د شپې په تیاره کې ځانونه بالاحصار ته ورسوي او د بالاحصار سرپورې دشیردروازې څوکي ونیسي. د انګریزانو توپونه او ټوپک په دغه ځای کې لویې لارې ته لمبر شوي وو او هغه یې پرله پسې ویشتله. د سړک او د لارې د خوا کلاګانې ورانې شوې، ملي مبارزینو له لارې څخه ځانونه چپ کړل، په ښوره زار زمکه کې د اغزیو او لوخو شاته شول. یویو ځل به د انګریزانو د وسلو د ګولیو باران جوړ شو، ته به وایی په دغه سیمه باندې له پورته خوا څخه سره اورونه وریږي. مبارزینو د بالاحصار دغره په څوکو سترګې خښې کړې وې چې کله به هغه نیسي، خو هلته رابرټس پوخ سنګر نیولی و. د بالاحصار په ټېټو برخو کې هم دهغوی وسلې او توپونه ځای پرځای وو. د ولسي لښکرکوم ننګیالي چی وړاندې تللي وو، دهغوی پته نه معلومیده.

ورځ په تېریدو وه، لوړ مازیګر و چې ملی مبارزینو پرېکړه وکړه چې په شپه کې به پر انګریزانو یرغل کوي. د غرونو له څوکو سره د مازیګر سُرخی ښکاره شوه، اُفق د اور رنګ ونیو. د ساپیو له غرونو څخه د لمر د وړانګو وروستۍ لمنه ټولیدله، لا هم دپرنګیانو د وسلو غږ اوریدل کېد، ځای ځای به یې له زمکې ګردونه او خاورې پورته کولې. په همدې کې د ولسی لښکر څو تنه شهیدان شوي وو، ډېرو نورو د ماښام په تته رڼا کې خپل ټپونه تړل. دا وخت د آسمان په ګوټونو کې د مني نرۍ نرۍ توره وریځ راښکاره شوه چې د ماښام له تیارې سره یې فضا نوره هم خړه- پړه کړه چې پرنګیانو باندې وېرې وزرونه وغوړول. نور نو مبارزین او ملی ننګیالي د شپې پخېدو ته تم وو...

کله چې شپه له نیمایی اوښته، ننیګیالیو د بالاحصار له جنوبی او ختیزې لمنې څخه د انګریز لښکر مات کړ او هجوم همداسې وړاندې روان و. دوی ځانونه دپرنګي مورچو ته ورسول. دسبا ستورو دملی مبارزینو د وروستی بري زیری ورکاو، هرې خوا څخه د تکبیر آوازونه راتلل چې آزادي غوښتونکي مبارزین اوولسی سرتېري یې نور هم زړور کړل. په بالاحصار او آسمایی غره کې پرتو پرنګیانو باندې له هرې خوا حمله پیل شوه. کله چې د شپې په رګو کې د ورځې رڼا ځغلیده، نو ملي

مبارزینو د رابرټس ټول لښکر مات کړی و. ختیځ کې دسهار سره شفق د ولسي لښکر دشهیدانو د لوړ توغ په شان د ننګیالیو بری اعلان کړ.

پرنګیانو بالاحصار پریښی و، د انګریزانو او د دوی د اجیر ګورکه پنجابیانومړي او دحشري سوډرانوجسدونه پراته وو. د مني د یخ سهار سړه هوا لګېده، توره وریځ نوره هم ګڼه او سره نږدې شوې وه  او کله چې ننګیالیو درې شهید وروڼه د اوسني پاخه سړک لویدیځ لور ته ښخ کړل، نو د منې وریځې هم په دغه ماتم ځو اوښکې توی کړې، نری نری سیلۍ تر مور پورې د شهادت معراج ته دهغې د زامنو د رسیدو خبر ورساو.

***

بوډۍ مور تر ډېرو کلونو هر هرچا ته خپل زامن یادول او د هغوی کیسې یې کولې. کله چې د ادې په سر کې یو ډکی تور وېښته او خوله کې یو غاښ هم نه و پاتې، په اوړي کې به یې دغنمو وري ټولول او د هرکال د مني په شپو کې به یې د جوارو چینک کاو او کله به یې دخلکو وړی سنۍ کولې. او کله به چې ادې د ژمي په اوږدو شپو کې د هر خپلوان کره میمله وه، تر نیمې شپې پورې به یې ماشومانو ته کیسې او نکلونه کول.

ادې به چې دهر خپلوان کره میلمه شوه، نو د هغه کور په ماشومانو به جوړ اختر و. دژمي سړې او اوږدې شپې به د ادې په نکلونو خوږې او ژرتیریدې.

نه پوهیږم چې ماته ولې همدا اوس هم کله کله بوډۍ ادې ترسترګو شي چې د دیوال خواکې ناسته وي او په سترو- ستومانو او زهیرو لاسونو کله څرخی څرخوي او کله هم وړی ریشي. دهغې په زهیرو او رنځورو سترګو کې یوه یوه رڼه اوښکه دهغې د ناپایه رنځونو او د زامنو د بیا نه لیدو د آرمان تجسم دی. ادې لا ډېر کلونه پخوا د خپلو زامنو(دیدن) پسې تللې، خو نه پوهیږم چې ماته ولې هغه همدا اوس هم هرمنی او هر ژمی رایادیږی؟

# خزانه او مرغلرې

انجنیر په هغه ورځ د خپل کوچني زوی ځیرې ته په ځیرځیر وکتل او په لنډه شیبه کې یې هغه ته یوه روښانه راتلونکې تصویر کړه. د ده تصویر کې کوچنی میوند د پوهې د خزانې او ګنج مالک و. ده غوښتل چې زوی به یې ښوونځی ولولي ، بیا به له خیره پوهنتون څخه فارغ شي ، له هغه ځخه به پوه ، هوښیار ، خدمتګار او د نیک نوم خاوند سړی جوړ شي . له همدې تصویر سره له کوره ووت او دفتر ته ولاړ . کله چې مازیګر کور ته راستنېد، نو خپل کوچني زوی ته یې چې لا د سبق ویلو جوګه نه و ، یوه (بغدادی قاعده) او یو ټوک قرآن مجید هدیه کړي وو . له رارسېدو سره یې سم د ډراوینګ او نقشه کشي د پنسلونو او توشو له منځه یو د دفتري کار قلم راواخیست او د قرآن مجید د وقایې دوهم مخ کې یې ولیکل:

(په ۱۴/۵/۱۳۶۶ نیټه میوند جان ته هدیه شو.)

××××

ورو ورو میوند د خاپوړو نه په پښو شو، په خبرو راغی، درې کلن شو، خوړې خوړې خبرې یې زده کړې او بیا څلور کلن شو. د پلار یې نیت و، چې میوند به اوه کلنۍ کې نه ، بلکې شپږ کلنۍ کې ښوونځي کې شامل کړي او هره ورځ به د هغه د راتلونکی لپاره د کتاب، قلم، مدرسې، ښوونځي او علم حاصلولو په سوچونو کی و، ترڅو چې یوه ورځ یې ورته یو د کتابونو ښکلی کوچنی بکس، دوه کتابچې او یو نوی قلم راوړل. اینجنیر په هغه ورځ ډیر خوشاله و، دا ځکه چې خپل زوی ته یې لویه خزانه او ستر ګنج راوړی و. کله چې مازیګر له دفتر څخه کور ته ورسېد، نو څلور کلن میوند د کور انګړ کې په لوبو بوخت و. چې یې پلار د انګړ په وره ور ننووت، نو سمدلاسه یې مخې ته ورمنډه کړه . پلار د تل په شان مهربان او خوشاله و. میوند یې دواړه لاسو کې ونیوه ، ښکل یې کړ او بیا یې کوچنی بکس ورکړ او ورته ویې ویل:

ـ دا دی بچیه نن مې درته لوی ګنج او خزانه راوړې ده!

میوند ته لکه چې د دنیا خوښي ور په برخه شوی وي ، بکس یې واخیست او مخ په کوټه یې وځغاستل . وروسته تر هغی ورځې به کوچني میوند هره ورځ یو ځل دوه ځله خپل بکس، کتابچې او قلم له تاخچې رااخیستل او په شوق به یی کتل. پلار به د کوټې له یو کونج څخه په ډیره مینه خپل زوی او د هغه ګنج او خزانې ته کتل . دغه ګنج او خزانه دواړو ته غټ تسل و، د اینجنیر ټوله تمه او هیله همدې ګنج او خزانې ته وه .

××××

په وطن باندې د رالګېدليو ليونيو بادونو څپې وار په وار زوروې کيدې او هرې څپې نوی ماتم راووړ ، جګړو ورځ په ورځ زور واخيست او ښايسته ښکلي، ښارونه، کورونه او باغونه او هرڅه يی بربادول. ورځ تر ورځې بدتري وه . هره خوا ورانې - ويجاړې پراخيدې ، هره شيبه د نويو خرابيو او ورانيو خبرونه اورېدل کېدل . دا وخت ميوند  پوره اووه کلنی ته رسېدلی و او ښوونځي کې يې د داخلولو کال و. هغه کال چې دپلار هيله يې وه، خومدرسې اوښوونځي وتړل او بيا کنډواله شول. دفترونه، پروژې، موسسات او ادارات هم ځينې لوټ او نوروتړل شول، دغو پېښو د اينجنير غوږونه ورتاو کړل او ورته ويې ويل چې که ته انجنير يې، نو د ودانيو انجنير به يې، خو اوس وخت د ورانې دی ، ښه به وي چې نويوحالاتو سره ځان برابر کړې!

اينجنير له رسمي کارونو وزګار شو. نه پروژه وه، نه آمر پاتې و، نه ملازم او نه ميز او دفتر. هيڅ ځای کې د نقشې او مهندسي کار نه موندل کېد، ټول د ډراوينګ او نقشه کشی پنسلونه ،  توشونه او فارماتونه يی يوې خوا ته پريښودل او زړه يې تور شو، د وروستی تنخا ټولې پيسې ولګيدې او نور يې جيب کې يوه روپۍ هم نه وه. اړ شو يوه ښه د سبوپلورلو کراچی(ريړی) يې رانيوله، زړه يې و چې اوس به نو له سهاره تر ماښامه په هغو خلکو چې سابه پخوي، خپله سودا پلوري.

ميوند د اوو کالو په منګ دی هغه هم کولای شي چې د موټرو تمځای کې په هغه خلکو چې تندې پسې اخيستي وي، يوه لوټه اوبه وپلوري، هغه به هره ورځ دغوړيو ټيم له اوبو ډکوي، بيا به يی په ډوله کې پر خلکو پيري په سوځندو ګرميو کی هر موټر سره ستوی منډې وهي او همدا نارې وهي :

ـ يخی اوبه ، يخی اوبه !

کله چی لا د ليرې کوم موټر رابښکاره شي او پر سړک تيريږي نو ميوند له اوبو ډکه ډوله لاس کې نيولی وي او د موټر څنګ سره په منډو پيل وي ، خپل کوچني لاسونه ايله د موټرو ښيښو پورې ور ورسوي او بيا نارې کړي :

ـ يخی اوبه ، يخی اوبه!

ځينی موټر خو دومره ګړندي وي چی د ميوند غږ هم نه وررسيږي ، ځينی چې لږ څه تم شي يو يا دوه پکې تږي وي او اوبه وڅښي او بيا هم د ميوند سترګې (تږي) لټوي چی سودا يی وشي او ده ته يوه روپۍ په لاس کې ورکړي.

کله چی میوند کور ته لاړ شي ، نو منډه واخلي خپل د کتابچو بکس له تاخچې راکوز کړي او یوځل خپلې دوه کتابچې چې تر اوسه نوې او سپینې دي، راواخلي او خپل قلم هم وګوري او بیرته یی تاخچه کې کښیږدي . خدای خبر چی میوند به تر کومه عمره خپل بکس په تاخچه کی نوی نوزی ساتي؟!

اینجنیر چی کوټه کې یوازې کښیني، نو د موټرو تمځای یی سترګو سترګو ته کیږي چې میوند هر موټر پسې ځغلي او همدا ناری وهي:

ـ یخې اوبه ، یخی اوبه!

د اینجنیر سترګو کې بې اختیاره اوښکې راشي ، پاځیږي له تاخچې څخه د میوند ګنج او خزانه (!)راواخلي او دهغه سیپاره، کتابچې او قلم چی اووه کاله مخکې یی راوړي وو رابرسیره کړي ، په حسرت او ارمان ورته ګوري؛ کتابچی پرانیزي ، څو پاڼې یې واړوي ، قلم هم وګوري ، کتابچی لا تر اوسه هم سپینې او نوی دي . د میوند عمر نور د ښوونځي د شاملولو نه په اوښتو دی. د اینجنیر له سترګو څخه د اوښکو راڼه څاڅکي د ده په ږیره چې بې وخته سپینه شوې راتوی شي .

اینجنیر هره ورځ د وزګارتیا په وخت کي ګنج او خزانه (!) مخې ته کښیږدي او له خپلو سترګو نه مرغلرې ورته تویوي او لکه چی اینجنیر غواړي دغه ګنج او خزانه د خپل زوی د راتلونکی لپاره له مرغلرو ډکه کړي!

۱۸/۶/۱۳۷۳، کابل

# د فال چينه

د انسان وجود کې زړه لکه يو ياقوتي لال د مينې کور او سمبول جوړ شو. خالق تعالی د انسان په خټه کې مينه ګډه کړه او نوم يې هم ورته له همدې مينې(انس- انسان) کېښود: لقدخلقنا الانسان فی احسن تقويم"، خو سخته خبر پکې دا شوه چې ( مينې) ته د (حيا) پوښ ورکړل شو. دغې حيا او شرم مينې ته نور هم جذابيت او مقدس رنګ ورکړ. وايي د يوسف زليخا د مينې کيسه خو څکه دومره رنګينه شوه او ترنن ورځې را پاتې ده چې د ياقوتي لال نه يې پوښ وغورځول شو او د هغه ځَل او پړقا عالمونه خبر کړل. کله چې قيس په مينه کې مجنون شو او د دغه ياقوتی لال ځلا وبرېښېده، نو عربو ډېره هڅه وکړه چې بېرته د شرم پرده ورواغوندي، خو هيڅ نه کېده آن دا چې کيسه يې عجمو ته هم ورسېده. د دغې کيسې د ليکلو الهام هاتفي ته د هغه د پير حضرت سيد قاسم په روضه کې وشو او هغه څکه چې دغه روضه د پاکو او رېښتينو مينانو د ټوليدو ځای و، نو دليلا او مجنون کيسه يې وليکله. په دې توګه د ليلا او مجنون نکل له عربو عجمو کې هم خپور شو او خبر خو لا آسمان ته ورسېده او ليلا او مجنون د آسمان ستوري شول او تر نن ورځې ځليږي. همداسې يوه بله کيسه؛ دوه مين زړونه د همداسې يوې مينې په خوړلن کې د يوې چينې تر غاړې اوبه شول، ځاځکي شول، پرخه شول او تر نن ورځې د (فال چينه) کی دانه دانه ځاځي. نو د فال چينې د مينانو کيسه څه وه؟

د کابل ښار جنوب لوري ته د بګراميو او سهاکو شنو باغونو ته څېرمه، مخ پورته يوه ښکلی شنه دره پرته ده. دغې دره کې د ښار څخه د يوويشت کيلو مترو په واټن يوه بيدۍ ډوله غونډۍ ښکاري. خلک وايي که هر ناعلاج ناروغ له دغې غونډۍ څخه درې ځلې وګرځول شي، روغ رمټ کيږي. دغې غونډۍ ته د (چينو غونډۍ) وايي چې د هغې له لمنې د رڼو اوبو چينې وتي او مخ ښکته په يوه پراخه شنه ورشو چرچره شيله دي. اصلاً چينه يوه ده چې هماغه د (فال چينه) يې بولي، دا نورې هسې وړې چينی دي چې دټولو شمير يوولس دی. د فال چينې سر پورې يوه عجيبه تيره ده چی د رحيل بڼه لري. وايي چې دلته به د خدای(ج) يو دوست چې ورځ به يې په صيام او شپه به يې په قيام وه، د الله تعالی کلام لوست. د چينی پر غاړه پر څو نورو تيرو د امسا نښې ښکاري چې دا هم د همدې مبارک د امسا ځايونه دي. د چينی تر غاړې يو د زنګون پل هم دی چی ويل کيږي دلته ستر شخصيت ګونډه لګولې او چينې ته يې لاس ښکته کړی و. اوس دغه بزرګ د همدې غونډۍ په لمن کې په ابدي خوب ويده دی. د فال د چينې پر غاړه په کتارو ايښودل شويو تيرو باندې سهار وختي او ماښام ماښام

راڼه ځاځکي ښکاري چې يو يو په اوبو کې لويږي. د هغو کيسه د دغې سيمې ډيرو پخوانيو سپينږيرو اوس خپلو سينو کې ګور ته وړې ده.

نکل خو داسې دی چې وايی يوه ورځ يو دنګ- لوړ زلمي له لرې کليو څخه د کوم سفر موچڼې پشو کړې وې، د چينی په ليدو يې اوتر اوتر وکتل، تږی و، زړه يې د څه نا کراره ارمان تلوسه لرله، پولادی مټو کی يې ايل شوی زور احساساوه، ځمکه يې موږی موږی تر ګامونو لاندی لکه مست بهاڼ ناکراره ناکراره کيده. کله چې د چينی سر پورې راورسېد، يوآه يې وکړ. د هغه سترګې د جمال او ښايست يو بې مثاله پړک وبريښولې. يوه د ښايست ميناتور پيغله په هغه شيبه د چينی غاړی ته راغلې وه چې اوبه يوسي او له اوبو سره يې له دې زلمی نه زړه هم يووړ. د هغې جادويي خمار يوه شيبه زلمی لکه کاواکه ټال وزنګاو او چې زلمي بيا دغې د حسن ملکې ته وکتل د هغې يوې نرۍ موسکا يې اندامونه سست کړل. يوې نا آشنا تودوخې نور هم د چينې غاړی ته راښکه د زلمي په سد څه ورنه غلل خو داسې ښکارېده چی هر نفس يې يوه ترانه شوه، هر ونه يو ديوان شو او هره پاڼه يو شعر هر شعر د اوبو خوږی نغمی سره يو عاشقانه سرود جوړ کړ او دوی دواړه يې مدهوش کړل!

ورځې تېرېدې او د چينې غاړه د دوه مينو زړونو د تندې د ماتېدو او د ديدن د غرمو د جل سيوری شو. خو دا تنده نه ماتېده. هغوی د زيارتونو نذرونه ومنل، زلمي د هغی د حُسن د ملکې پلار ته جرګې وليږلې، خو د هغې پلار په دې وصلت نه و راضي. ډېر جايدادونه يې ورته ومنل، جرګې ستومانه شوې، خو د نجلۍ پلار ته دا ډيره د شرم اوله دوده وتلې خبره ښکارېده. هغه په خپلې لور کلک بنديزونه ولګول. سره له دې هم دوی په غلا او په پټه د چينې پر غاړه يو بل سره کتل. خلک خو وايي چې قسمت او تقدير غوښتل دواړه په يوه اورنۍ مينه کې و آزمايي او په دې آزمايښت کې يې ژوند د دغې مينې نه لوګی شي او په دې توګه چينه کې د مينی سمبول(ياقوتي لال) د وديعت په توګه کيږدي.

... زلمی نه يو ملنګ جوړ شو، له چينې څخه لږ پورته د لوی زيارت د تيرو بارې ته به يې ډېره وهلې وه. يوه شپه د حُسن ملکې يو خوب وليد، خپل خوب يې يوې بوډۍ ته تېر کړ او ورته ويې ويل چی د زيارت په بهانه لاړه شي، د زيارت ملنګ منجاور ته يې کټ مټ وواييی: هغې بوډۍ ته وويل: خوب مې ليدلی چی د الله هغه دوست او د خپل وخت ولي چې له چينې څخه لږ پورته يې زيارت دی، په (ج) سپينو جامو کې چی اوردې تسپی يی لاس کې وې ورته داسی ويلی و:

« د دې غونډۍ په تل کې یو لوی حوض دی چې همدا چینه ورځنې راوتې، هغې کې یو کب دی! هو، یوازې یو کب! د کب خوله کې یوه مرغلره ده، تر څو دا کب ماته رانه وړې، نو دا مینه مراد ته نه رسیږي. »

په هغه سبا ملنګ د غونډۍ په سر کې د کوهي په کیندلو پیل وکړ. وایي د هغه د یوم او کلنګ غږ شاوخوا کلیو شپه او ورځ اورېد، خو څوک نه پوهېدل چې دا څوک دی او ولې لګیا دی؟

څه موده وروسته ملنګ له دې لومړني آزمایښت څخه په بریالیتوب ووت. هغه اوبو ته ورسېد، کب یې ونیو او د چینې غاړې ته یې راوړ، ترهغه په تمه کیناست چې محبوبه یې په پټه راغله. هغه کب ورکړ. دا وخت کب د هغې له لاسه وښوییده او د چینې په اوبو کې لاهو شو. نور نو کب ورک شو. د دواړو له خولې یو سوړ آسویلې پورته شو. کب د چینی اوبو کی مخ ښکته ولاړ او بیا ونه موندل شو. دوې ونشو کولای چې لیدلي خوب سره سم؛ کب د بزرګ زیارت ته ورسوي.

ټولې هیلې او خوارۍ په اوبو لاهو شوې . نور نو زلمی د چینی د غاړې ملنګ و او که د ملنګي جامی یې په تن نه وای، نو خامخا به یې د لرې او نژدې کلیو د خلکو شک راپارولی وای او بیا نو ورته دلته ژوندون ګران و. ورځ تر ورځې هغه ته د خپلې محبوبې لیدل ګران کار ګرځېد دا ځکه چې هغې نور له کوره د وتلو اجازه نه درلوده.

مودې تیرېدې، ملنګ به  له چینې څخه پورته د غونډۍ سیورلن اړخ کې یو کمره ته ډډه وهلې وه او خپله سوزناکه شپیلۍ به یې غږوله. دهغه د شپیلۍ آواز ته به خامخا هر لاروې په شیبو شیبو تم کېد.

یوه ورځ بیا هم هغه وکولای شول د چینې تر غاړې خپله محبوبه وویني. هغې د زیارت توغونه نوي کول او په همدې پلمه له کوره وتې وه. د زیارت دبارې سره یې څو ډوډۍ هم پخې کړې. هغې خیرات وکړ او ملنګ هم دغه خیرات ته راغی دا وخت ملنګ د چینې تر غاړې و، دواړه د داسې شیبې په تمه وو. د چینې تر غاړې کیناستل. ملنګ د ښایست او حُسن د ملکې مجذوب و. ناڅاپه له پورته خوا د پښو او چا د راتګ غږ واوریدل شو. د دوی زړونه له ویرې ودرزیدل، هغوی دواړه د زیارت پر لوري لاسونه پورته کړل او د خدای (ج) څخه یې  چی یو نوم یی ستار دی وغوښتل چی دوی له شرم او رسوایي څخه وساتي. هماغه شیبه کې دواړه تري تم شول، هغوی د اوبو په رڼو څاڅکو بدل شول او لکه د ګلاب  د پرخې په شان د چینې تر غاړې په تیرو چینې ته دانه دانه ولویدل.

له هغه راهیسې تر نن ورځې هم دغه ځاځکي همداسې یو یو چینه کې لویږي. اوس دغې چینې کې زښت ډېر کبان دي، خو هیڅوک هغه نه نیسي. خلک وایي د هغو نیول وبال لري. د غونډۍ په سر د یو کوهي اثر چې له خاورو ډک شوی اوس هم ښکاري او کله چې سړی د چینې په غاړه ناست وي، نو له لرې څخه د شپیلۍ یو سوزناک او سحرګر غږ اورېدل کیږي چې کله یې د باد څپې یوې خوا ته او کله بلې خوا ته ورک کړي. او چې څومره سړی دغه غږ ته ځیر کیږي، نو لکه د باد څپې ورسره سرګردانه او بېخوده شي او ډېر خو یې د اورېدو توان هم نلري. اوس هم د لرې او نږدې کلیو او له ډېرو لرې سیمو راغلي خلک دغې چینې ته راځي. هغوی لومړی د تیري رحیل ښکلوي، بیا اوار څپلی له پښو کاږي، په تیرې باندې د زنګون په پل زنګون کیږدي او دغه چینه کې فال ګوري، خو تر اوسه هیچاته څه ندي وتي. خلک وایي که څوک ریښتینی مین وي، نو د چینی اوبو کې ورته یاقوتي لال په لاس ورځي او هرو مرو به خپل بخت ته رسیږي. خو لکه چې نور نو د زړونو آئینې خړې او ګرد جنې شوي، نو ځکه اوس هیچاته هم یاقوتي لال په لاس نه ورځي!

۱۳۵۷کال

چینوغونډۍ، سیاه جوی

# ګنهکاره لوبه

زوروره ګرمي ده. د ونو خاښونه د تاوده لمر له لاسه ښکته ځوړند دي. دکلي د خوا د خړې غونډۍ له اړخ ځخه توده توده وږمه په دې خوا راچلیږي. هلته یوه پېشو د دیوال یخ سیوري ته دلمر له وېرې غځیدلې ده. د چڼچڼو نوي الوتلي بچیان له یوه ښاخ ځخه بل ته الوځي، چرګانو وزرونه  سره لیرې او ځوړند نیولي، د کوم یخ سیوري په لټه کې دي. په هوا کې یو ګرد شانته ښکاري چې د کلي پر سر ټوله فضا یې خړه اړولې...

د کلي سپېره کورونه او خټین دیوالونه د لالهاندو ورځو داغونه په زړه زړه لري: یو دیوال نړیدلی، دبل کور څپره لکه د مرغانو توپان وهلې ځاله، په بل انګړ کې نیم سوځیدلی پوزی، په بل کورکې دڅارویو د تلو پړي هره خوا پراته دي خو څاروی نشته، د بلې کلا مخې ته د ماتو شویو کټونو بوټ لکه د مرغیو  لپاره د ایښودل شوی لومې په شان جړ پروت دی...  دکلي- کور پخوانی شور او ګڼه-ګوڼه نشته، کوڅو کې د کلیوالو ټګ – راټګ او لری- بری ډیر لږ دی، دتیرې شپې درندې چاودنې غږ اوس هم د وېرېدلو کلیوالو په غوږو کې دی، یواځې د کوم یوه کور له ټیټ دیوال ځخه یوه نیمه ښځه چې سرتر پښو یې تورې جامې اغوستي ، ښکاره شي، یا یو نیم بوډا چې پرته له پرله پسې ټوخي  بل څه نه ترې اورېدل کیږی.

بل کورکې یوه بوډۍ ادې چې له لاسه یې نه کیږي چې له ګړي ځخه  لږ اوبه راواخلي او تنده پرې ماته کړي، شاوخوا سترګې غړوي چې خپل کوچنی لمسی وګوري او ورته غږ کړي، خو دهغې لمسی لکه چې د تل لپاره ورځخه  مرور شوی وي...

زه خپل څادر پر سر راسموم  چې زما پر مخ  نور هم سیوری شي او د ویالې په غاړه غاړه  ښکته خواته  تاویږم. اوبه په دمه او ورو روانې دي. د ویالې منځ کې د اوبو پر مخ د ویالې د دوو  غاړو د ونو ښاخونه اوچته ښکاري. لږ ښکته د څو ماشومانو غږ-زوږ دی. دماشومانو غږ راباندې ډیر ښه لګیږی. دا هغه یواځینی غږونه دی چې په کلي کې یې لاهم د ژوند نښې بللای شم. هغوی د ویالې پر غاړه په خارو کې لوبې کوي. خپله لاره لنډوم او وار په وار ماشومانو ته ورنږدې کیږم. هغوی څو تنه سره ټول دي او د ویالې غاړه یې نیولې؛ پښې ابله، ببر او خیرن سرونه، خلاصې تنې او په خیرو او سپېرو خاورو لړلې لمنې، شلیدلي لستوڼې، تر بیډیو پورې په خټو او خاورو سپېرې پښې، پرسېدلې ګیډې، نري او ډنګر لاسونه او لینګي، ژیړ رنګونه او الوتې بڼې... د یوه په زړه دپلار د وروستیو سلګیو داغ، دبل په سترګو کې دمشر ورور په وینو کې د لژند وجود تصویر چې تر اوسه لا همداسې

ثبت دی. دبل په غوړ کې د هغوی د کور د ټولو تورسرو ژړا او انګولاوې چې همداسې به د ژوند ترپایه د ده په غوږو کې په انګازو پاتې وي. د بل په ذهن کې دهغو کسانو تت انځور چې د خپلو واسکټونو له پاسه یې ګردنۍ تړلي او ټوپک یې په اوږو وو...

او په دې کې زما سترګې د هغې کامرې په شان چې د یوه دقیق تصویر اخیستو ته فوکس شوی وي، د ماشومانو لوبو ته ځیر کیږي؛ له هیبت او ویرې ځای پرځای ودریږم. د زبون وهلو په شان هک پک بی خوځیدو!

- هی خدایه ! دا څه لوبه ده؟ دا څه ګنهکاره لوبه...!؟

ماشومان په لوبو اخته دي. هغوی د ویالې پر غاړه په خپلو کوچنیو لاسونو یوه لپه قدرې خاورې د یوې پولې په شان غونډۍ کړي او په دوو سروکې یې ورته پلنې کوچنۍ ډېرۍ ایښي، هر ماشوم دا ډول لس لس، شل شل ځایه دا ډول خاورې ټولې کړي او په دوو سرو کې یې ورته کوچنۍ پلنې تیږې درولي. یوه نیم بیا د هریوه څخه کوچنۍ کوچنۍ تیږې چاپیر کړي دي، بل ماشوم ورته څو واړه واړه لرګي درولي او وړې رنګه ټوټې یې ځوړندې کړي دي، ماشومان لګیا دي کوچني کوچني قبرونه جوړوي، زما سترګې د ویالې تر غاړې یوه د لوبو هدیره ګوري ... بل ماشوم لګیا دی یوه اوچته نرۍ لښته یې درولی چې شین بیرغ او سور بیرغ لري. د ده په فکر دا به د ټولې هدیرې زیارت وي!

بل یو دوه قبرونه خوا پرخوا جوړوي... ماشومان لګیا دي، زه له خپګان او ویرې ریږدم، زړه مې ډوپکی وهي...

ماشومانو د لویې ونې تر سیوري لاندې د ویالې غاړه په خپلو کوچنیو جنډۍ لرونکو لکړو ډکه کړې، د یوه ماشوم معصومو سترګو ته ګورم؛ لکه چې ورڅخه پوښتم:

- ولې په خپلو معصومو لاسونو داسې...؟

فکر کوم چې ځواب راکوي :

- ته خو زموږ دکلی خوا کې د غونډۍ لمنه وګوره کنه!

د بل یوه له سترګو څخه پوښتم :

- ته هم په همدې لوبو لګیا یې؟

زموږ د کلی سپین ږیرو همداسې جوړول !

... او ما په خپلو سترګو  ليدل چې معصومو کوچنيو لاسونو يوه (ګنهکاره لوبه) کوله. د کلي سپېرو، بربنډو، په نس وږيو، ګرمي وهلو، پښې ابلو ماشومانو يوه ګنهکاره لوبه  زده کړې وه.

پر ما باندې يو هيبت او ويرې وزرونه غوړولي وو، ځان مې نشو خوځولای،  زړه مې و چې له ويرې او خپګانه نارې ووهم . زړه مې درزا کوله او پر ما باندې يو شوم (سام) خور شوی و...

# برار

هغه ماته اوس هم د صمیمیت، اخلاص، د یوه مهربان تره یا خواخوږي ماما په شان رایادیږي. او لکه چې هغه ټولو کلیوالو ته یو نږدې خواخوږی، ښه دوست، مونس او ترټولو مهمه دا چې لویو کارونو کې یو قوي مټ و، لکه چې هغه زموږ په کلي کې ښه ډیر ثوابونه هم ګټلي وو. زما په ټول ژوند کې لکه د هغه په شان بل تصویر په ذهن کې دومره روښانه ندی پاییدلی.

***

... د مني لنډې ورځې وې، پاڼې په رژېدو وې، خړې وریځې او لړې به د شاوخوا غرونو پرسرونو تاوېدې او د ژمي د لومړنۍ واورې د وریدو ویره یې راپاروله. کلیوال به وروسته د ماسپښین تر لمانځه د جومات پیتاوي ته په کتار کېناستل او ډډې به یې د جومات دیوال ته لګولې.

زموږ په کلي کې به هرکال د پسرلی په راتګ سره دمیراو(میرآب) او پاده وان د نیولو اندېښنه او په مني کې به دلربني د نیولو اندېښنه وه. سږکال هم د مني په دغو ورځو کې کلیوال سترګې په لاره وو چې یو ځوک پیدا شي اوژمی جومات تود کړي. دوی به لربني ته (دجومات خادم) هم ویل. لربني به له غره څخه بوټي راوړل. هغه به سهار غره ته خوت، غرمه به یې یو لوی ګیډی بوټي را کوزکړل اود مازیګر لمانځه سره سم به یې د جومات اتشخانه کې اور بل کړ. مازیګر به د کلی د کورنو سره یوځای د جومات له بامه هم لوګي ختل او جومات به تر سهاره پورې ښه تود و. کلیوالو لربني ته یواځې ډودۍ ورکوله.

پیتاوي ته ناستوکلیوالو؛ چا نسوار خولې ته اچولي وو، چا د جومات پر چوتره پر زمکه کرښې ایستې او چا هم د کلی یواځنی باسواده میرزا؛ د بسم الله خان خبرو ته غوږ نیولی و. هره ورځ به د همداسې خبرو- اترو په ترخ کې په لنډه شېبه کې مازیګر شو او د کلي په سر به شین بخن لوګی خور شو.

په همداسې یو ماسپښین چې موږ ټول پیتاوي ته ناست وو، له لرې د کلي په کږه- وږه لار، د کروندوله منځه یو ټیټکی پنډ سړی چې یوه اوږده لښته یې د امسا په دود په لاس کې وه، زموږ خواته را روان و. هغه له لرې نابلده او مسافر ښکارېد. کله چې لږ نور هم را نږدې شو، دکلی یو - دوه سپیانو ورمنډې کړې او په غپلو یې پیل وکړ. سپیو غپل او پرله پسې یې لکۍ خوځولې، سړی را نږدې شو. مامور صاحب بسم الله خان د سنت اخیستو کوچنۍ بیاتی کات کړه جیب ته یې واچوله،

د ستار اکا د نسوارو ډبلي هینداره کې یې بریت سمول، نو کوتی یې هم ورته وسپاره. زړه نا زړه او په شک سره یې د زیري په لهجه پیتاوي کې ناستو کسانو ته وویل:

- والله لکه چې له خیره سره لربنی هم پیدا شو!!

ناست کسان هم لږ څه خوشحاله شول او په لاره را روان سړی ته ښه ځیر شول، خیروګل په سپیو د (کوتی!) غږ وکړ، سپیو سرونه زمکی ته ټیټ کړل، یوې خوا بلې خواته شول. را روان مسافر ډېر ستړی ښکارېد، څوک نه پوهیدل چې هغه به څوک وي؟

مامور صاحب بسم الله خان چې خپله قره قلی خولۍ په زنګون ایښې وه، هغه یې راپورته کړه او پر سر یې کړه. زموږ په کلي کې مامور صاحب یواځینی سړی و چې ښار ته یې تګ- راتګ کاو، سواد یې درلود او په دري ژبه پوهېد، هغه به قوالې( قبالې) هم لیکلی او د خلکو د زمکی د ترکې کار او جریب یې هم کولای شو.

په لاره راروان سړي د جومات پیتاوي ته په رارسېدو سره موږ ټولو ته په ځیر ځیر وکتل او په ستومانه او ټپ غږ یې سلام وکړ. مامور صاحب ورپاڅېد ښه په غیږ یې روغبړ ورسره وکړ:

وطندار بخیر آمدي جور تیار...

نورو کلیوالو هم تود هرکلی ورته ووایه او زموږ په کتار کې کېناست. سم له کیناستو سره دپیتاوي له لومړي سر څخه بسم الله خان دوهم ځلي ورته وویل:

- بخیر آمدي !؟

هی برار بخیر باشي خیر نصیبیت، افتو خوش موخوره.

- اجان وقتیش است دیگه زمستان امدنیست. بیشي که دمیت راست شوه.
  هی برار تاکه جان ده تن است جان بکن است. دم مم راست نموشه.
- خیر بازام زمستان میایه کارا یگذره کم میشه.
  برار زمستان موگی مره خونوک میگیره ، هه هه ! دواړو وخندل،
- ده زمستان وتابستان حکمتای خداوند است،
  آری بیشک، اموذات چیزی ره پیش بیره که خیر ماوشمایه.
  بیا یې مخ ستار آکا ته واړاو:

- چطو برار؟

ستار اکا چې څو څو واره د هغه له خولی ( برار برار) واورېدل، خو په مانا یې ونه پوهېد او لا د دوی دخندا پر مهال حیران شوی و چې دوی څه وویل، نو په جدي او لوړ غږ یې مامور صاحب څخه وپوښتل:

برار څه وایی؟

- برار وایي چې ښه پیتاوی دی.

ستار اکا چې ډاډه شو، نو ویی ویل:

برار ته وایه چې ښه پیتاوی دی او ښه میلمه هم راغلی دی.

دا وخت نوي راغلي میلمه مامور صاحب څخه وپوښتل:

- برار! خادم بری مجیت کار دارین؟

له دې پوښتنې سره موسکی شو او مخ یې لکه د سور الوانی اتلس په شان سورشو. مامور صاحب ځواب ورکړ:

- اجان صدقیت شوم ما گپ میزنیم. خو تو یک چن شو مهمان ما باش، ما ای گپه فیصله میکنیم.

نوی راغلی میلمه خوشاله شو او دپټې خندا له زوره په ریږدیدا شو. هغه لکه زموږ د کلیوالو په شان په کټ کټ نه خندل. هغه تیاره داسې خندا کوله لکه د پښ له بنی چې په یوه سا باد وځي.

په هغه ورځ هم لکه د نورو ورځو په شان ډېر ژر مازیگر شو. د پیتاوي خلک او له کورونو نور راغلي کلیوال جومات ته ننوتل. مولوی صاحب هم چې چیرې تللی و، را ورسېد، آذان یې وکړ. وروسته تر لمانځه ستار اکا نوی میلمه له مټ څخه ونیو او ورته ویی ویل چې ته نن زما میلمه یې. میلمه ورته وویل:

برار مه گپیته نفامیدوم مه ده مجیت شوه تیر مونوم. خو ستار اکا ورته قسم وکړ:

- والله چې د لاندي د وچې غوښې لومړۍ کتره په تا ونه خورم، نه دې پرېږدم. میلمه اریان شو. مامور صاحب ورته وویل:
تره میمان میکنه گوشت لاندی بریت پخته کده. خو میلمه وویل:

- خیرببینه امیجه بیاره مه دمجیت نان موخوروم چی تکلیف بتوم؟

فیصله وشوه چی ستار اکا به د ماخستن ډوډۍ، یو بالښت او یوه شړۍ میلمه ته جومات ته راوړي.

په هغه سبا هغه ماموصاحب سره میلمه شو او کورته یی ورغی ځکه هغه په خبره ورسره پوهېد او زړه یی نه تنګېد. نورو کلیوالو په وار ډوډۍ جومات ته ورته راوړله. زموږ کلي کې همدا دود و چی لربنی به فقط د ډوډې په وړاندې جومات توداو، نغدې پېسې ډیرې نه وې او نه هم لربنیو دثواب په خاطر هم پېسې نه اخیستی، همدا درې وخته ډوډۍ ورته هرڅه و، مقصد ژمی تود او موړتېرکړي، خو میراو به افتخاري دنده ترسره کوله، پاده وان به د کال په پای کې د غوا او خوسي په سره یومن غله او د خره په سر نیم من غله اخیسته، دکلی ډم به هم یومن اوړه او د لاندې یو دوه کترې غوښه اخیسته.

نوې راغلی میلمه تر یوې اونۍ وروسته د جومات پیتاوي کې چې ډیرو کلیوالو دیوال ته ډډه وهلې وه ، مامور صاحب هم ناست و، مامور بسم الله خان ته وویل:

- مامورصیب، مه پشت یک غریبي میگردم که زمستانیم تیرشوه، بهار بخیر وادی آمدن کوچیا ده جای خود میروم اوغایت اونجه کارا شورو موشه برکت میایه امی زمستان سخته. مردمه بگو که مره خادم مجت میگرین یانی؟

مامور صاحب ورته وویل: اجان آ. ما فصیله کدیم که تو بخیر ده ای زمستان خادم مسجد ومیمان ماخات شوي. له دې سره برار پاځېد بیا یې هماغه پخوانې خندا وکړه په دواړو لاسو یې د مامور صاحب لاسونه ونیول او کورودانی یې ورته وویل. له هغه وروسته ټولو کلیوالو ده ته (برار) وایه.

مامور صاحب پیتاوي کې ناستو کلیوالو ته وویل چې دا دی برار ته مې وویل چې زموږ جومات به تودوي. دا وخت د کلی اوقی سیداجان دا هم وویل :

- نامخدا جومات لوی دی، دخسو په واړه ګیډي کار نه کیږي، برار به له خیره ښه لوی لوی ګیډي راوړي. مامور صاحب څه ونه ویل، د تایید په دود یې سروخوځاو، خولکه چې د ستار اکا ازمایښت لا پاتی و، نو مخ یې راواړاو ویې ویل:
- برار ګُله، که غره کې دخسو راوړو پرمهال ګیدړه درباندې راشي، نوڅه به کوې؟

برار یی لږ څه په پوښتنه پوه شو، نو په جرات یی وویل:

- ده کودام غارروبا پوت موشوم شیر که رفته بور موشوم کار مه موکونوم.

له دې سره مامور صاحب او يو څو کليوالو وخندل. ستار اکا چې د برار په ځواب ونه پوهېد، نو بسم الله خان ته يې د توضيح غوښتلو په دود وکتل. مامور صاحب خبر لنډه کړه ورته ويې ويل:

- برار وايی چی د ګيدړی سوري کې به پټ شم. يو ځل بيا ټولو په کټ کټ وخندل، برار هم دخندا له زوره خوځيده، خو خندا يی نه اوريده کيده. په دې توګه آزموينه بريالۍ تېره شوه. وروسته تر دې آزمونيې برار(رسماً) د جومات خادم شو.

هغه کال په هغه سوړ ژمي کې زموږ جومات تر بل هرکال تود و. کليوالو کورونو کې ډک کندوان، د وچوتوتو ډک انډي، کُرت، سنځلې، د لاندي وچه غوښه او هرڅه لرل. کله به چې باندې ګزګز واورې ورېدې، ويالې او لښتي به کنګل وو، نو کليوال به تاوده جومات ته راتلل او موږ؛ هلکانو به تاوده جومات کی سبقونه ويل. ما لومړۍ سيپاره او شروط صلوة ختم کړی و، ګلستان می شروع کړی و. د هرچا زړه و چې د زړه له تل څخه برار ته دعاوې وکړي. په دې موده کې برار په مولوی صاحب، په کليوالو او آن پرموږ هلکانو چې سبق ته به راتلو، زښت ګران شوی و. هغه موږ ته د صميميت، اخلاص، خوشالي او وروري يو سمبول و.

... دهغه کال ژمی ډېر ژر ووت. له پټيو واورې الوتې، ورو ورو د پسرلي نښې څرګندې شوې. د شنه آسمان پراخه لمن کې يوه يوه توتکۍ راپيدا شوه. په همداسې يوه ورځ کې کله چې زه له کوره د باندې ووتم، نو دکلي له وروستۍ کلا سره ټول کليوال راټول وو. زه هک اريان شوم. په بيړه مې ځان هلته ورساو، (برار) دخلکو منځ کې ولاړ و او يوه بوجۍ وچه ډوډۍ يې چې ټول ژمی يې زيرمه کړې وه، په اوږه وه. هغه يې ستار اکا ته ورکړه ويې ويل:

- بيګی ستار برار تو مرغ زيات داري.

ستار اکا غمجن ښکارېد. کليوالو پنځلس افغانۍ ټولې کړی وې، هغه يې د مولوی صاحب په لاس برار ته وسپارلې. برار ټينګار کاو او پيسې يې نه اخيستې. له خندا يې مخ بيا هم لکه الواني اتلس سورښکارېد. مولوی صاحب هغه په غېږ کې ونيو او خدای پاماني يې ورسره وکړه. مامور صاحب هم خدای پامانی ورسره وکړه. موږ د کلي هلکان د برار په تګ ډېر غمجن شولو. ټول کليوال غمجن وو. خو هغه ويل چې نور نو ځم. ماته دخير دُعا کوئ. د ستار اکا په سترګو کې برار پسې دخپګان نښې ښکارېدې او له برار سره يې خدای پامانی وکړه. برار په خپله لار رهي شو. په

هماغو پولو روان شو چې منی موږ د لومړي ځل لپاره ولید. څو څو ځله یې زموږ خواته راوکتل او لاس یې وخوځاو. کلیوال تر ځنډه  ولاړ وو او ورپسې کتل یې.

- خدای دې مل شه!
- برار زموږ ورور و،...

د پسرلي توده هوا لګیده. د پټیو د پولو خواوې شنې ښکارېدې. پاس دکلي پر سر د زاڼو یو اوږد کاروان په تېرېدو و. کله چی برار له کلي څخه ډیر لری شوی و او نور نو د غونډیو څخه پنا کېد، موږ ورپسې وکتل، لکه چې هغه به هم یو ځل بیا زموږ د کلي خواته کتلي وي.

## د سیستان یو پخوانی نکل

### (له ولسی فوکلور څخه)

زابلستان او سیستان د زمینداور او روه د ټولو نورو سیمو په شان د آریائي پښت له پنځېدو راهیسې نوم درلود. له اشرقه ترمغربه یې سوداګریز کاروانونه تلل- راتلل. دبرکتونو یې نوم لګېد. دا دوه آباد ملکونه زموږد نیکونوټاټوبي وو. په دې ملکونو کې زمونږ باتور نیکونه اوسېدل. هغوی ډیر هوښیار او عادل پاچایان او عقلمند وزیران لرل. د زابلستان باچا میرانشاه او د سیستان باچا صابر شاه نومېد. میرانشاه یو ډیر دینداره مسلمان سړی و، صابر شاه هم ډیر نیک سړی و، هغه اووه ځله حج ته تللی و او د ډېرو لرې ملکونو خوارانو او غریبانو ته یی هم خیراتونه او زکاتونه ورلیږل. میرانشاه یوه ډیره ښایسته لور درلوده چی ټوله سیمه کې یې د ښایست نوم لګېد او د هوښیارۍ ساری یې د دنیا په شازادګیو کې نه و. او صابر شاه بیا یو زوړور او هوښیار زوی درلود. شازاده د آس ځغلولو کې ساری ندرلود، هغه په غشي او ښښه ویشتلو کې دومره تکړه و چې ستن ورڅخه نه ختا کیده. دښکار څو تازیان یې لرل او دغشي او لیندۍ جوړول یې خپله زده و، دکسب او کمال سړی و. شازاده د لویو حکیمانو کتابونه لوستي ووا و په حکمت اوحکومت دواړو باندې پوهېد.

یو وخت د سیستان پاچا د کاروانیانو او سوداګرو له کیسوخبر شو چې د زابلستان دپاچا یوه ډیره ښایسته لور ده، نو غوښتل یې چې خپل هوښیار او زړور زوی ته یې کوژده او بیا یې راواده کړي او په دې ډول له میرانشاه پاچا سره خپلوي وکړي، نو صابر شاه له سیستان څخه زابلستان ته مرکه ولیږله چی خپل زوی ته د میرانشاه پاچا لور وغواړي. لوی کاروان جوړ شو، په کاروان کې د صابرشا یو عقلمند وزیر، یو میرزا او یوشاغاسی او څو اردلان وو، دوی ځان سره ډیر قیمتي سوغاتونه هم اخیستي وو.

د صابرشاه دغو استازیو اومرکې دا سوغاتونه د زابلستان پاچا ته وړل. دا یې یو اوږد کاروان کې په آسونو بارکړل.

مرکه او دغه ریباران دربو ورځو کې زابلستان ته ورسېدل. کله چې هلته ورسیدل د زابلستان دپاچا د دربار مخی ته سټرې- ستومانه له آسونو راکوز شول. او د زابلستان د پاچا دربار ته د ورتګ په تمه شول، استول شوي میرزا سره د اجازې غوښتو اولیدنې په خاطر یوه ورقه وه چې د ورقې اخر کې د میرانشاباچا مُهر لګول شوی و، میرزا دغه کاغذ د صابرشا د دربار اردلیانوته ورکړ . هغوی دخپل باچا دربار ته ورغلل او ورته ویې ویل:

- باداره، زموږ سردې له تا قربان شي، له سیستان څخه یو کاروان راغلی او غواړي چې ستاسې حضور ته راشي،

او له دې سره سم یې د سیستان د پاچا را استول شوی لیک ورکړ. موږ ته فرمان راکړه چې څه وکړو؟

میرانشا کاغذ وړ وغوښت او هغه یې ولوست، کله یې چې د صابرشاه مُهر ولید، نو د دربار غلامانو ته یې وویل چې راغلي کاروان ته میلمستیا جوړه کړئ. یو سات وروسته میرانشاه د مرکې خلک وروغوښتل. دوی پاچا ته ورغلل او د هغه درناوی ته په کتار ودرېدل. وزیر مخکې و، شاغاسي او میرزا ورپسې او دا نور په اخره کې ودرېدل او ټولو تعظیم وکړ. پاچا دوی ته سترګې مشی وویله د دوی قدر یې وکړ. دوی ورته وویل چې موږ له سیستان څخه راغلي یو. زموږ سترټولواک صابرشاه تا ته سلامونه ویل او موږ یې د مرکې په خاطر  رالیږلي یاستو. له دې خبرې سره سم وزیر د سوغاتونو هغه پېټي ورته مخې ته کېښودې چې صابرشاپاچا میرانشاپاچا ته رالیږلي وو. په هغو کې وړین کوټونه، دسمالونه، د آسونو زین، قیضه اوموزې وې.

میرانشاه دوی ته وویل:

- اوس به خبرې پرېږدو، تاسې ډېر ستړي ستومانه یاست. نن شپه زما مېلمانه یاست، دمه جوړه کړئ او تر سبا پورې ارام وکړئ. د زابلستان باغونه وګورئ، د دربار غلامان به ستاسې مېلمه پالنه کوي.سبا به زه ستاسې خبرو ته غوږ ونیسم چې زما درانه ورور اعلیحضرت صابر شاه څه غوښتي دي.

د مرکې خلک د پاچا په ماڼۍ کې میلمانه شول. آسونه یې بهر د میرانشاه چمبر کې وتړل شول او وربشې ورته واچول شوې. د شپې یې میلمنوته چرګان، کبابونه او غوړې وریجې پخې کړې وې، د ماسخوتن لمانځه کې امامت په خپله میرانشاه پاچا وکړ. دشپې میلمانه ویده شول، شپه تیره شوه، سبا شو. دسهار لمونځونه وشول، لمرخاته سره سم میرانشا په ماڼۍ کی میلمنو ته شات، کوچ، خیدک او هګۍ راولیږلې. د میلمنو یی ښه قدر وکړ. ځانښت مهال چې پاچا د خپل رعیت نورټول کارونه خلاص کړل، نود عریضو او شکایتونو د اورېدو وخت را ورسېد، کله چې د عریضواوشکایتو وار تېرشو، د سیستان کاروانیانو ته یی اجازه ورکړه چې د ده دربار ته ورشي. د مرکې خلک دربار ته حاضرشول. وروسته تر تعظیم څخه کیناستل. صابرشاه دوی ته غوږ ونیو. له زابلستان څخه راغلو میلمنو یوځل بیا د میرانشاپاچا سلامونه ورته وړاندې کړل، وروسته یې هغه نور سوغاتونو د ده حضور ته وړاندې کړل چې ډېر قیمتي وو او په پېټیو کې نه و کېښودل شوي، دا قیمتي سوغاتونه په زربفتو کې نغاړل شوی وو چې بیه یې کروړونه روپۍ کېدې او صابرشا پاچا، میرانشاپاچا ته را استولي وو. په دې کې قیمتي غمي، جواهرات او الماس وو. دوی میرانشاه پاچا ته د خپل وطن د حالاتو، برکتونو، د اوبو د بندونو، باغونو، پریماني او د رعیت دهوساینې ډېرې کیسې او صفتونه  وکړل او ویې ویل چې د

زابلستان او سیستان ولسونه سره ورونه او یود بل خواخوږي دوستان دي. دوی ګډ دوستان او ګډ دښمنان لري، خو د دې لپاره چې دغه دوستي لا ټینګه شي، نو موږ د خپلوي وړاندیز کووا و په دې توګه یې د صابر شاه زوی ته د ده لور وغوښته او د صابر شاه د زوی د زړورتوب او پوهې کیسې یې ورته وکړې.

میرانشاه ځُرت کې ولاړ چې اوس څه وکي اوڅه ورته ووایي، نو دوی ته یې وویل:

- تاسې به یوه شپه نور هم زما میلمانه یاست. زه به خپلو وزیرانو او نجومیانو سره سلا وکړم، بیا به ګورم چې خدای څه راپیښوي.

د مرکې خلک بېرته د ماڼۍ میلمستون ته ولاړل. په هغه شپه میرانشاه پاچا وروسته د ماسخوتن له لمانځه څخه خپل عقلمند وزیر سره مشوره وکړه. عقلمند وزیر ورته وویل:

- زموږستره واکمنه! عالی جنابه: الله دې عمر اوږد لره، بویه چې ښایسته شهزادګۍ له هوښیار او زړورشازاده سره واده وکړي. زمونږ درسره مصلحت دی.

کله یې چی وزیر رخصت کړ، د دربار نجومي یې راوغوښت، نجومی لومړی دپاچا مخې ته په ګونډو شو، د باچا د روغتیا او اوږد عمر لپاره  یی دعُا وکړه او د پاچا حُکم ته تیار شو.

پاچا نجومي ته وویل:

- د سیستان پاچا زما لورته ریباران او مرکه رالیږلې ده، ته د نجوم کتابونه وګوره او بیا ماته مشوره راکړه.

هغه خپل کتاب کې وکتل، وروسته یې کتاب وتاړه په تعظیم او درناوي سره د میرانشاه تر مخې په ګونډو شو، سر یې ښکته کړ، لږ شیبه وروسته پاڅېد، په درناوي سره د پاچا مخې ته ودرېد او ویې ویل:

- زموږ ستره ټولواکه ! تر تا کوربان شم، عمر دې ډیر شه، زما یقین راغی چې د شازادګۍ او شهزاده طالع بیداره او ژوند یی په شریکه بختور ښکاري. د شازاده د اقبال ستوری مې ولید او کتابونوکې مې دهغه دزړورتیا، ښښې ویشتو او کسبونو ټکي وموندل.

نجومی بیا تعظیم وکړ او په شا ولاړ. ورپسې پاچا هغه سوداګر راوغوښت چې له زابلستان څخه به یې مالونه سیستان ته او له سیستان څخه یې مالونه زابلستان ته وړل. دا سوداګر له زابلستانه تر سیستانه پورې ټولو خلکو پېژاند، ډیر مالداره او په سوداګرۍ پوه سړی و. سوداګر راغی پاچا ته یی تعظیم وکړ او په ګونډو شوویې ویل:

- اعلیحضرتا! ای زموږ ستره ټولواکه زما شتمني دې تر تا قُربان شي، ماته امر وکه، تیار یم.

پاچا یې تعظیم ومانه اوهغه یې ځانته نژدې وروغوښت، سوداګر د پاچا مخی ته کیناست. پاچا د زابلستان د حالاتو، آبادي، هوا، اوبواو د هغه ملک دپاچا او د هغه د زوی او رعیت په هکله ورځخه پوښتنه وکړه او ورته ویی ویل چې د زابلستان خلک او ولس له خپل پاچا او خپل شازاده څخه خوښ دی که نه؟

سوداګر وویل:

- پاچا عمر دې ډېر شه، زابلستان لکه زموږ د سیستان په شان یو پُراومعمور ملک دی، ما ډېر ملکونه لیدلي دي، خو له اشرقه ترمغربه او له عجمه تر عربه پورې مې لکه د سیستان او زابلستان په شان آباد ملکونه ونه لیدل. دنړۍ ترټولو خوږې اوبه او تازه میوې په سیستان اوزابلستان کې دي. دسیستان د اوبو بندونه او باغونه زښت زیات ښایست لري، د سیستان په ډنډونو کې مرغاوی او زاڼې ګرځي، د ویالو ترغاړو یې د میوو دونه ونې دي چې میوه یې څوک راټولولای نشي...

سوداګر د سیستان د آبادی او د سیستان د پاچا همدا صفتونه کول او هغه یې ستایه:

- ...د سیستان پاچا عادل او په رعیت ډېر ګران دی، ولسونه یې ایمانداره اوسخاوت لرونکي دي. ما خو چی ځومره دسیستان له خلکو اوریدلي دي، د هغوی پاچا ډېر عادل او مسلمان سړی دی او زوی یې ډېر زړور او هوښیار دی، داسې شهزاده د دنیا په هیڅ ملک کې نشته. په غیبو الله پاک ښه پوهیږي، خو دغو تیرو پنځو کلونو کې چې زه هلته ځم او راځم له هیچا مې د صابر شاه بد نه دي اوریدلي، لارې یې امنیت دي، کسبونه پکې ډېر دي، باغونه او کروندې شنې او هره خوا دتازه او خوږو اوبو رودونه روان دي...عدالت پکې چلیږي، او ولس او رعیت خپل پاچا ته دُعا کوي.

پاچا دسوداګردخبرو له اوریدو وروسته هغه هم رخصت کړ. په سبا یې بیا هم کله چې ترغرمې پورې درعیت کارونه ترسره کړل او عریضې او شکایتونه یې واورېدل، نوغرمه یې له سیستان څخه د راغلې مرکې خلک ځانته وروغوښتل او دوی سره یی ومنله چی خپله لور به د صابر شاه پاچا زوی ته واده کړي. کله چې میرانشاه پاچا د صابرشا پاچا ریباران رخصتول، هغوی ته یې ډېر قیمتی سوغاتونه ورکړل او د دوی د آسونو خورجینی یې له راز راز هغو اسبابونو ورډک کړل، چې دلته د زابلستان صنعتکارانو جوړ کړي وو. دوی ته یې د زابلستان وچې میوې، د زرګرانو په لاس جوړ شوی ملاوستنی او د آسونو خورجینی اوطبراقونه ورکړل.

کله چې مرکی ته استول شوي وزیر او ریباران سیستان ته بیرته ستانه شول، لومړی د صابر شاه دپاچاهي ماڼۍ ته دهغه د درناوي او هغه ته د تعظیم لپاره ورغلل، بیا یې هغه ته مبارکي وویله، هغه سوغاتونه چې میرانشاه پاچا د سیستان پاچا ته رااستولي وو هغه یې ورته مخې ته کېښودل. پاچا رالیږل شوي

سوغاتونه یو یو وکتل او بیا یې هغه خزانې ته واستول. دا خبر په ټول سیستان کې خپور شو، نغارې و ډنګېدې او جارچیانو خلکو ته د دې پېښې خبر ورکړ.

په هغه سبا دښار په لوی ډګر کې د ساندې او نښې ویشتو لوبه جوړه شوه، دغې لوبې ته ډیر خلک راغونډ شول.څو میاشتې وروسته په سیستان کې د شازاده واده ته تیاري ونیول شوه. د نغارې غږونه واورېدل شول اود سیستان واړه او زاړه خوشحاله وو. د شازاده او شهزادګۍ واده اووه ورځې و، په دغو ټولو اوو ورځو کې دښار خلکو ته ډوډۍ ورکول کېده، نښې ویشتل کیدې اوډولونه ډنګول کیدل.

په ټول سیستان کې لویه خوشحالي وه، خلکو نوې جامې اغوستې، بازارونو باندې جنډۍ ځړول شوې وې او پرله پسې ډولونه غربول کیدل. اووه ورځې وروسته د زابلستان د پاچا لور د ګاڼو، سرو او سپینو زرو له یو کاروان سره په ښایسته ډولۍ کې سیستان ته راورسیدله. ختمونه وشول او یو بل ته مبارکي وویل شوه. کله چې د میرانشاه ښایسته لور د صابر شاه نږور شوه، نو ډېر ښه ښه کارونه یی شرو کړل. نجونو ته یی مدرسه جوړه کړه او د سیستان غریبو خلکو سره یی مرسته وکړه. د هغې ګاڼې او سرو او سپینو زرو په پیسو یې له سیند څخه ویالې او کانالونه هغو وچو دښتو ته وکښل چې کښت پکې نه کېد، یوه ویاله دهغې دپلار په نوم او بله دهغې د خُسر په نوم شوه،اوس هم یوې لویې ویالې ته د صابری ویاله او یوې بلې ته شاه جوی وایي. سیستان د دُنیا پرمخ یو اباد او له غلو- دانواو میوو ډک وطن شو، له هرګوټ څخه سوداګر په دې خوا رامات وو، د هیڅ شي کمی نه و. د سیستان نجونو، ښځو او ټولو خلکو شازادګۍ ته دُعاوې کولې اودهغې په هوښیارۍ یې ویاړ کاو.خو د خدای کړه و او د بنده ورته کاته و، دا وخت کوپارو یو لوی لښکر له غراغرومه په سیستان را روان کړ چې دغه آباد او ښیراز ملک ونیسی. دښمن غوښتل دسیستان د اوبو بندونه، چې سیستانورباندې آباد و، ونړوي. دښمن دسیستان آبادي او دسیستانیانو خوشحالي نشوه زغملای او د اوبو رودونه یې ټول ځانته غوښتل. دسیستان ځوانانو د خپلو اوبو دګټلو په خاطر تورې ته لاس کړ. چیغه ګډه شوه او د سیستان د اوبو او آبرو د ساتنې لښکرجوړشو. ملاتړلي زلمیان د د وطن د اوبو او آبرود ساتنې لپاره د پردیو د لښکر مخې ته ورووتل. د صابر شاه زړور زوی د لښکر په سر کې و. دوی پنځه کاله له دښمن سره په مېړانه جګړه وکړه، سیستان یې تسلیمیدو ته ورنکړ، دښمن یې په شا تمبولو ته اړ کړ، خو د دښمن لښکر یو ګوډاګی په پټه سیستان ته راواستاو. هغه تورې جامې اغوستې وې او مول یې وهلی و چې څوک یې ونه پیژني، هغه د دښمن له ملکه دوه توبرې زهر په آس باندې سیستان ته راوړل، هغه یې د هغو ویالو په اوبو کې واچول چې د سیستان خلکو او دسیستانیانو پوځ دهغو اوبه څښلې. کله یې چې وروستۍ توبره اوبو کې تشه کړه خدای دغه ګوډاګي څخه توره تیره جوړه او دغه ګوډاګی ځای پرځای توره شرمیدلی تیره شوه. زهر په ویالو کې خواره شول او د صابر شاه پاچا د لښکر سپاهیان د زهرجنو اوبو په څښلو

شهیدان شول. ښار دښمن ونیو خو لږ وخت کی شازاده د سیستان پاتې ځوانان راټول او دښمن یې له سیستان څخه ورک کړ. له هغه وروسته خلک تیره شوی ګوډاګی په تورو تیرو ولي او لانت وربانديې وایي. اوس د تور ګوډاګي په سر دومره تیرې ویشتل شوي دي چې لویه غونډۍ ورڅخه جوړه شوی ده.

# ورک شوی پل

د آسمان کوز او بر سر کې به د تالندې او برېښنا ځغلنده رڼا وځلېده او ورپسې به د تالندې ګړزا شوه. د ړومبني اورښت ډنډوکي به لا نه وو وچ چې بیا به له کوزې خوا ګڼه توره وریځ د غونډیو له شا راتاو شوه. ته به وایې له خپلو تلو بیرته پښېمانه شوه، دا ځل به برې خواته لاړه، ورپسې به ورو ورو آسمان شین شو، یوه یوه بنګړه لمر او ورپسې به د پسرلي ښه تود لمر راښکاره شو. شنیلي او نوي شنه شوي بوټي به وینځل شوي وو او نرۍ ورمې به ورو ورو ښورول، ورسره به نویو غوړېدلو ګلانو په نڅېدو- ښورېدو پیل وکړ، پسرلنیو مرغانو به وزرونه پرانیستل، خو لږ شیبه وروسته به بیا ګڼه وریځ دهغې باښې په څېر چې  تر خپل سترګو لاندې ښکار باندې تاویږي، بیرته را تاو شوه.

یوه  برېښنا او بیا ګړز ګړز...! د لمر مخ به یې پټ کړ، د باران ځاځکي به د زمکې خواته لکه غشي را ورېدل.

په دغسې یوه ورځ کې په کلي کې آوازه شوه چې میرآو وټاکل شو، له دې څخه درې- څلور ورځې وروسته بیا آوازه شوه چې کلي ته پادوان ونیول شو. خلکو ویل دتېر کال پادوان بوډا و، مالونه یې لرې او تازه- ګیو وښو ته نه شول رسولای، خو سږکال یو چست او بیدار زلمی دکلی پادوان شو. کلیوال ټول خوښ شول.

زموږ کلی د دوو غرونو ترمنځ پروت و. دسره ښتو کورونو دوو خواوو ته شنې باغچې او بیا ورپسې ښیرازه کروندې پلنې شوې وې. دغرو لمنو کې د توتو او غوزانو د ونو باغچې له ورایه ښکارېدې چې له پاسه پکې د چینو د رڼو اوبو لښتي را روان وو. لږ پورته د پرښو خواوو کې دغرني بادام او نښترو یوه یوه ونه اوچته ښکاریده. له کلي څخه ډیره کوزه یوه شنه پراخه ورشو او شنه چمنونه پراته وو چې منځ کې یې له اوبو ډک جرونه او چړونه بهېدل. شاوخوا یې ښې ګڼې لوخې – پټخې شنې وې. دا ورشو په ګزوګام یا جریب نه حسابېده، خو له یوه سره تر بل سره به آس په تراټ پکی ستړی شو. هر کور دوه درې ځاروي لرل. په هغه ورځ د پادوان د مُزد په هکله هم هیڅا څه ونه ویل، خو د تېر په شان د هر ځاوري په سر له پسرلي تر مني نیم من غنم یا یومن جوار له پخوا رواج او ښکاره خبره وه چې همدا منل شوی و. له دې څخه وروسته په درېیمه ورځ چې د پسرلي تود لمر راوخوت، کلیوال په کر- کیله بوختېدل، دکلي ډیر بر سر کې دا غږ واوریدل شو:

مال راولئ مااااال...!

دا د پادوان غږ وچې دهغه په اورېدو به هرچا خپل ځاروي له کوره وراېستل. له دې غږ سره سم به له هر کور څخه یوه یا دوه غواګانې، یو یا دوه خوسي، یو سخوندر یا یو خر یا کوټي ورروان شول. پادوان به دکلي ځاروي سره ټول کړل  ټول به اتیا، نوي یا سل وو، د ورشو خواته به یې روان کړل.

د کلي خلک او هلکان له پادوان سره بلد شول، هغه له یو لرې ځای څخه راغلی و، خپلې سیمې کې یې زمکه نه لرله، پلار یې ختګرو. د ده په حساب له دغو ځارویو څخه ده ته یوخروار(اتیامنه) غله جوړېدای شي، له دې پرته یو څه تپی(تپاکې) هم پلورلای شي. دا ګټه ورته کافی ده. نوم یې شین ګل و، دکلي هلکانو په شین ګلي مشهور کړ.

شین ګل دنګه لوړه ونه، نافذې او دقیقې سترګې او ګڼې وروځې درلودې، په تنه غښتلی او د پادواني د موقف برخلاف، یو څه مغرور هم و او په حرکاتو او خبرو کې یې دروندوالی و. له غریبي سره سره یې څېره ډېره ښایسته او سپن بخنه وه. حیرت و چې څنګه دا متضاد اوصاف ده کې راټول شوي وو؟ دکلي هلکانو به ورته(انډیوال) ویل:

- انډیواله سترې مشی !
- انډیواله، زموږ دغې ژیړې غوا ته ډیر پام کوه، نن- سبا لنګیږي.
- انډیواله پرون وختی تللی وې، زموږ دوه کوټي له څړ څخه پاتې وو.
- ...

او شین ګل به دوی ته غوږ نیو، په امانتدارۍ یې خپله دنده ترسره کوله. هر سهار به د پادې مخکې یوه ښکره وره غوا، منځ کې سخوندرې او غواوې، شاوخوا خوسکیان او کوټي روان وو. لاخره به ورپسې یو څو غریبې ښځې روانې وې چې د خوشیو ټوکرۍ به یې پر سرونو وې او تر ټولو به شین ګل  وروسته ګامونه اوچتول او تر سترګو لاندې به یې ځاروي څارل. ته به وایې همدا د پادې (دایمی نظم!)و. ورو ورو د پسرلي ورځې د اوړي په تودو ورځو بدلیدې. ورځې هم اوږدې شوې. اوړی به چې ټکنده غرمو کې په سرو پوټیو او شګو کې پاده مخکې روانه وه، نو شین ګل به لاخره پسې د هی هوی !  نارې وهلې، اوچت اوچت ګامونه به یې اخیستل، د لارې په شګو او خاورو کې به د نورو ټولو پَلونو په منځ کې د ده پَلونه د پای د ټکي په شان برجسته او اوچته ښکارېدل او چې کله به ځاوري کلی ته ورسېدل، نو یواځې همدا نښې به پاتې وې او بس.

دسهار له خوا به هم د لارې په پوټیو کې د پَلونو په پای کې دغه د پای ټکي وو او غرمه به هم کله چې شین ګل لنګې غواوې د لوشلو لپاره راوستلې، دغه پلونه به د پای ټکي وو.

د دوبي په همداسې یوه غرمه کې چې د ښارو پلار او ورور په لو- لور اخته وو، نو هغه اړه شوه چې د کلي له دود سره سم یوه ډوډۍ د پاده وان لپاره پلو کې کیږدي، لښته واخلي او خپله غوا تر پاده ځایه بوځي او پاده وان ته یې وسپاري.

د ښارو د پیغلتوب به دوه کاله کیدل. دا له هغه راهیسې باندې نه وه وتلی او نه هم د کلي دود- دستور د پیغلو د وتلو اجازه ورکوله. ښارو د پیغلتوب د غوټیو په راښکاریدو احساسوله چې له ټیکري څخه وتلیو کمڅیو سره یې باد په سپین سترګۍ سره لوبې کوي او د ښایست ځایونه یې جامې هسې تخنوي.هغه اوس د ځوانۍ په یوه داسې ټال کې ځنګېده چې د کوچنیوالي ټالونو سره یې توپیرو او دا ورته حیرانه وه. په هغه ورځ یې ورور په کرونده کې پلار سره دغنمو لوکاو او کور کې څوک نه و، له مجبوري یې ټیکری پرسر راسم کړ، مور یې غوا لوشلې وه، هغه یې مخکې کړه او پنډغالي کې یې پادوان ته وسپارله. شین ګل هلته د یواځنۍ کوچنۍ ونې له سیوري پاخید، څاروي یې سره راټول کړل. ښارو ډوډۍ له پلو څخه راواخیسته زړه یې و غړ وربانديې وکړي:

- ؟؟

حیرانه شوه.

- په هکله دا زموږ غوا ...

خو نه، ښه به وي چې ورته ووایي:

- اې شین ګلیه !

نه.

- پاده وانه !

نه.

هیڅ یې ونه ویل، پر خپل ځای ولاړه وه. سترګې یې شین ګل پورې ګنډلې وې. شین ګل ډېر بې پروایو دوه ګامه وروړاندې شو، زړه یې و چې ډوډۍ ورځنې واخلي او خپلې پادې پسې به ځي، خو یوناڅاپه یې دوه سترګې د ښارو له نظر سره وجنګېدې. یو بل ته ځیر وو، نه پوهېدل چی څه چل دی؟ یو بل ته څه ووايي؟ اصلاً

دا تصادف څنګه پېښ شو؟ ولې یو ځلي دواړه داسې غلي شول. پاده وان ډوډۍ واخیسته او دواړه په خپلو خپلو لارو رهی شول؛ یو په یوه خوا اوبل په بله خوا. شین ګل د ورشو په خوا او ښارو په بېړه کورته را ستنه شوه، خو دواړو فکر کاو چې یا یې څه هیر شوي یا یې څه ورک کړي؟؟ شین ګل پاده مخکې کړه او د پادې د تګ په پای کی یې د پای ټکی ایښودل او ښارو په منډه کورته را ستنه شوه، زړه یې درزېد.

دا لیدنه ډېره ګړندۍ او ژر تېره شوه، لکه د لیندۍ د هغو غشو په څیر وه چې په شدت سره یو بل سره مخامخ شوي وي. یا به هم دهغې سپکې سیلۍ په شان وه چې وروسته یې ځان پسې یو توپان درلود. د یوه پادوه وان انځور د ښارو په زړه کې لار ومونده او د شین ګل په مخکې نور د ښارو تصویر لر- بر کېد...

شین ګل ډوډۍ د څادر پیڅکه کی و مروړله اوپه خپل کار پسې روان شو. دخپل زړګي د تشولو په خاطر یې یوه – دوه د های هوی نارې وکړې، د ده له غږونو سره څاروي چټک شول.

د شین ګل لږ څه خړچکې جامې، جګه دنګه ونه، یوه سپکه خولۍ چې هسې یې بی خیاله او بې پاملرنې مقصد پرسر اړولې وه لکه اصلاً چې د هغې د په سر کولو په هکله یې هیڅ سوچ نه وي کړی. ګڼ وڼ وېښتان چې د یو ډول آزاد طبیعت او فطرت نښه وه. اوچت غږ او زغرد ګامونه یې اوچتول، تیزې او ځیرکې سترګې چې یوڅه د غرور نښې پکې څرګندې وې. دشین ګل همدا انځور د ښارو سترګو کې پاتې شو.

او په دې ډول د دوی له دې لیدنې وروسته پرته له دې چې د ښارو پلار آګاه شي، دوی یو پر بل زړه بایللې و. له دې وروسته د ښارو سروسوکت له همدې یوې خبرې سره شو.

زموږ په کلي کې د لومړي ځل لپاره د دود- دستور برخلاف داسې یوې پټې مینې ریښه ونیوه؛ د یوې کلیوالې نجلۍ مینه چې په کلي کې مېشته وه، له یوه پردېس او غریب پادوه وان سره! خو هیڅوک خبر هم نه وو او هیچا د یوې داسې پېښې اټکل نشو کولای او نه هم چا د دې ډول سپین سترګۍ اجازه ورکوله. په دې توګه دود- دستور جلا او د زړونو کار جلا وي. دا یوه استثنایی پېښه وه. او دا هم یوه استثنایی پېښه وه چې یو بېخیاله او آزاد فطرته هلک چې آن د خولۍ په سر کولو ته یې څه پام نه کاو، سروکال یې نارې وهلې، منډې یې وهلې، په هر کال کې دپسرلي دلمر په ګرځېدو سره مزدور شوی او د مني دلمر په ګرځېدو سره بیا خپل

کلي ته تللی، خپلو همزولو سره یې منګولې لګلولي، په بی پروایی یې غرونه ګړنګونه ترشا پرېښي او بالاخره زموږ په کلي کې را ښکېل شو!

او چې شین ګل لومړی ځل د ښارو څېرې ته وکتل؛ لکه د نړۍ د تر ټولو تکړه انځور ګر(یمانی یا لئوناردو داوینچی )په جادو ګرقلم انځور شوی ترټولو ښایسته انځور چې ګوري: ګرد سور- سپین مخ، دوېښتاو یو چتر کټ مټ د هغه غرني بوټي په شان چې پلنې او خورې پاڼې یې رازوړندې وي، پړسېدلی شانته غټې سترګې یا دهغه نرګس په شان چې سهارنۍ پرخې مینځلي وي، دوه سره لری وروځې او پراخ تندی.

اود لومړني ځل لپاره زموږ داسې یوه د پټې مینې کیسه په یادیږي.

په دې ډول دغه تصادفي لیدنه کتنه د ورځې یو ځل کیدای شوه او هیچا په دې کې هیڅ شک نشو پیدا کولای، خو دوی دواړو به په سترګو کې سره غږیدل او دغه پټه مینه د اوړي د همداسې یوې ورځې د ټکنده غرمې په شان توده وه، ځکه چې په همداسې یوه ورځ کې پېښه شوه. د یوه پردېس مزدور مینه له هغې نجلۍ سره چې پلار او مورورته له کوره د وتلو اجازه نه ورکوله آن دا چې ګودر ته یې نه پرېښوده، خو د دوی زړونو یوبل ته لاره ومونده؛ له ډېرو لرې یې لار ومونده : یومغرور پردېس هلک چې لکه د هوا ګربت په دې لوري را دوره شوی و او بیرته به ځي او د آسمان پراخه لمن کې به د خپل سرګردانه او بیوزله ژوند نور ګوټونه لټوي. دګوربت زړه زموږ په کلي کې بندیوان شو. هیڅوک په دې کیسه خبر نه وو، خو داسې یوه کیسه د دوی په تقدیر کې لیکل شوې وه.

تود اوړی تیر شو، د مني سیلۍ وچلیدې، پاڼې ژیړې شوې، د ورشو واښه خزان شول، لمر وګرځېد، د کوچانو کډې بار شوې او د مزدوریو ورځې پایته ورسېدې او بیا یوه ورځ هم زموږ د کلي پاده وان له ټولو کورو خپله د مزدوري غله ټوله کړه. په وروستۍ ورځ د ښارو د کور مخې ته ودرېد. د کور ښښتن غله ورته راوړه، خو لکه چې پردېس مزدور له دې کوره خپله مزدوري نه اخیسته، بی اختیاره یې څه وویل:

- نه، د دې غلې لپاره ځای نلرم، بار مې دروند شو. ځان سره له ناچارۍ وبوړنېد، څه کولای شم ؟ ...

هغه د دغې کلا له دروازې بېرته په څټ شو، نور ځنډ کولو په ده شک را پیدا کاو، همداسې رهي شو. زموږ د کلي پردېس پاده وان چې هماغسې د پسرلي په یوه باراني ورځ له یوه اوږده مزله راغلی و، دمني دپاڼریژ په لنډو ورځو کې زموږ له کلي ولاړ.

نور نو لکه چې زموږ کلي کې هرڅه بنديوان شول. ونو پاڼې ورژولې او د پاڼريژ په يوه ورځ کې چې د مني ساړه بادونه را لګيدلي وو، بيا هم ښارو له پوټيو څخه د ډکې لارې څنګ ته ناسته وه او لکه چې کوم ورک شوی پل يې لټاو او ويل يې:

يو ځلی بيا په دې لار راشه        په پخوانو پلونو دې پريوتل ګردونه

## کاپره امريکا ده!

نعيم اکا زموږ بزګرو. لوړ قد او پياوړې متې يې درلودې. په کولبه کولو، درمند ميدولو، لَو او د پټي دپولو په جوړولو کې بيساری و. ټوکې يې ډيرې زده وې او خپله به يې هم عجيبې خبرې کولې. يوه ورځ د مياجان د ځوی واده و. ټول يې غوښتي وو. غرمه يې خلکو ته وريجې پخې کړې وې، خو وريجو کې يوه نيمه شګه

وه. د ډوډۍ پر مهال د نعیم اکا غاښ لاندې کومه کوچنۍ تیږه راغله کړس یې خواته هاشم جان هم واورېد. د کړس په اورېدو هاشم جان ورنه وپوښتل :

لکه چې وریجو کې تیږي دی؟ نعیم اکا په ټوکه ځواب ورکړ:

- نه؛ تیږي او شګې دي، خو یوه نیمه وریجه هم پکې شته !

شاوخوا ټولو وخندل، خو واده والا په دې ټوکه پوه نشو، که نه خامخا خپه کېد.

هاشم جان د ډاډ ګیرنې په دود وویل:

زموږ او تاسو دا وطني پایکو ګانو کې ټکول شوې وریجې خامخا شګه لري.

یو چا غږ کړ امریکا ماشینی پایکو جوړه کړې . یو سات کې یو خروارله شګو او خاورو پاکې وریجی نغدې درته پاکوي.

نعیم اکا وویل:

- دا خو ولا کاپره ارمیکا ده !

یو بل وویل داسې زراعتی غواوې یې دي، چې په وخت نیم من شیدې کوي!

بیا هم نعیم اکا وویل:

- کاپره امریکا ده، په وخت نیم من شیدې !!

د ده ژبه د (امریکا) په ویلو سمه نه چلېده، کله به امریکا شوه، کله ارمیکا!

نعیم اکا به پخوا په اشر دیو بل چا غویی راوست، خپل یوه غوایي سره به یې کولبه ورباندې کوله، او ده خپل یو غویی هغه ته په اشرورکاو. کله یې چې یوځه پیسې پیدا کړې، بل غویی یې واخیست او د دوو ښکرو ترمنځ یې په تندي باندې ورته یو سور تاویز تړلی و. کله یې چې دا نوی غویی دشوتلې پټې ته دمړولو لپاره بیوه، ورسره نه ته. زموږ کلیوال هاشم جان چې دا نوی غویی ورسره ولید، مبارکی یی ورکړه او ورته ویی ویل:

- واوه واه اوس دې دواړه غوایی خپل دي، بیغمه کولبې ورباندې کوه !

نعیم اکا ورته غوسه شو:

زه یې شوتلې ته بیایم راسره نه ځي، ته د کولبې خبره هم غوږ کې ورکه نو ښه به راسره لاړشي!

یوه ورځ آوازه شوه چې ملک صیب له هر کوره یویو تن غوښتی چې د موټر راتګ ته لاره جوړه کړو. نعیم اکا وپوښتل:

موټر د چا ده او څه پې کوئ؟

خلکو ورته وویل : عجب نوی راکټ موټر دی، په یووار اته خرواره بار وړي.

نعیم اکا په تعجب وویل:

اته خرواره !! کاپره ارمیکا ده لا په دې موټر!

کله یې چې اوریدلي و چې دباچا شورلایټ موټر امریکا کې جوړ شوی، هک حیران شوی و، له خولې یې وتلي وو :

- کاپره ارمیکا ده. پاچا ته چې موټر جوړولای شي، ماهم حج ته لیږلای شي، څوک به مې دا ارمان د ارمیکا غوږ ته ورسوي!؟

حج کول دنعیم اکا لوی ارمان و.

د نویو خبرونو د اورېدو ډیر شوقي و. کله به چې د ښار له نویو پېښو خبر شو، خامخا به یې خپله تبصره هم ورباندې کوله.

زموږ د پټیو د درمند د اخیستو ورځ وه. زموږ ښوونځي رخصت وو، پلار سره کلي ته تللی وم. نعیم اکا په درمند څپر ګرځاو. د پټي خوا کې یې یوه څپره جوړه کړې وه، هغې کې یې یو کټ ایښی و او یو پوزی ورباندې پروت و. پلارسره مې د درمند خواته ورغلم. نعیم اکا څپر ودراو، په منډه راغی زما پلار سره یې روغبړ وکړ، بیا یې ما ته سترې مشی وویله او موږ یې څپرې لاندې سیوري ته بوتلو، پوزی یې هوار کړ. پلار مې و پوښتل:

- څو ورځو کې به درمند میده شی؟
  یره خان صیب، پینځه ورځې وروسته به هم میده او هم باد شی.
- ځه که خدای کول کال دا وخت به ټراکټور ولرو.
  خان صیب، هغه څه شی دی؟
  ترکتور داسی ماشین دی چې کولبه کوی، درمند میدوي او هرڅه کوي.

نعیم اکا هک حیران و. دا له څه شی جوړ دی؟ پلار می ماته ګوته ونیوه اوورته ویې ویل: دا هلک به یی عکس هم درته راوړي او درته وبه یې ښیي.

ما ورته وویل :

اکا ، تراکتور دموټر په شان ټیرونه لري. ګرځي، کولبه ورپسې ټرل کیږي. کولبه یې درې- څلور – پینځه سپارې لري، غابنوره هم کولای شي.

- هوی زوی یی لوی کی ! یو جریب څومره وخت کی اړوي؟

اکا، پنځه جریبه زمکه یوساعت کې کولبه کوي.

- ای د نر بچیه په دی قوت. ښه دا چیری جوړ شوی، کابل کی شته ؟

هو امریکایی دي، وزارت زراعت یی لري.

- کاپره ارمیکا ده !

پلار می ورته وویل: ټرکتور خو وړه خبره ده ، سپوږمۍ ته ختلي. ګوره دا هلک به درته کیسه وکي، له سپوږمۍ یې خاوره هم زمکې ته را کته کړی.

دا وخت د کلی ملاصاحب پر لاره تیریږد، کله یې چې زما پلار ولید، لنډ را تاو شو او څپرې لاندی راغی ټولو سره یې سترِی مشی وکړه. نعیم اکا ورته له ګړي څخه یخې اوبه ورکړې. ملا صاحب اوبه وڅښلې شکر یی وایست او دپلار تر څنګ د کټ په بازو کیناست. درمند ته یې وکتل اواوچته غږ یې وکړ:

برکت !

نعیم اکا خیر یوسې ورته وویل او اضافه یې کړه:

ملا صیبه ګله، کال ته به دا زاره چاودګی نه وي، په ټاکټور به یې څپر کوم. ملا صاحب ورته کړه:

-ښه ښه.

ورپسې یې ملا حاحب ته دا هم ور اضافه کړه:

کاپره ارمیکا ده داسی شیان جوړوي، ته دا هلک ته غوږ ونیسه، ارمیکا سپوږمۍ ته ختلې آن خاوره یې راوړې ده. دا هلکان یې له مکتبه وروستي ورباندې کتلې یې ده. یو ناڅاپه ملا صاحب په غوسه شو:

- لا حول ولا چوپ سه کفر مه وایه، غرک سی آخرت دی تبا شو.

بیا یی زما پلار ته مخ واړاو.

خان صیب، زوی دی منع که داسی خبری ندی پکار. دا مښتبیان به بلاوې بوټې کړي. بنیادم څنګه سپړمی ته خیژي؟ توبه توبه ! ما ته برګ شو، خو څه یې ونه ویل او همداسې روان شو.

پلار مې ډیر وخندل. دنعیم اکا خوله خلاصه پاتې وه ما ته یې کتل، دپښې په غټه ګوته یې دپټې خاوره و ګروله بیا یې وپوښتل :

- د دغې خاورې په شان ده؟
نه اکا ، موږ له ښیښې ولیده ، ګوتې مو ورنه وړې، لږ توربخنه او زیږه ښکارېده.
- کیدای شی میده تیږی یې راوړي وي، کاپره ارمیکا ده !

ملا صاحب لا د پټې له بریده نه و وتلی چې د نعیم اکا داخبره یی واورېده ، یوځل بیا یې دنعیم اکا خواته په غوسه وکتل او ګړندۍ روان شو.

نعیم اکا سر خوځاو او د څپر د ګرځولو په نیت پاځېد:

- کاپره ارمیکا ده !

۱۳۵۶-خیابان کوڅه

# تېرى مهاجر

سترګو يې پرله پسې څه لټول. له وروستۍ غونډۍ څخه په راتاوېدو بياهم ښه ځيرشو، شاوخوا يې ښه ولټوله، هيڅ نه وو پاتې. په دې ورځو کې له هنګو اود آدم خېلودرې څخه نيولې، تر جم، کارخانو، کبابيانو پورې دکباړ بازار ښه تود و، زړې او ماتې وسلې، د دفترونو سامان، د موټرو پرزې، ناچاودلې ګولۍ، د فابريکو ماشينونه او هرڅه پلورل کېدل، خو چې څوک تکړه شي، راټول يې کړي او کباړيانو ته يې ورسوي. پېښور کې آوازه وه چې غنى خېلو ته قوا راغلې وه، مجاهدينويې څو ټانکونه او موټر ورويشتلي او قوابېرته تښتېدلې، دټانکونو او موټروخداى بلا کباړ پرځاى پاتې ده، خو ده چې څومره وکتل، څه په نظر ورنغلل، لکه چې د دې سيمې يې وړي دي؟!

بيا يې ډېر وړاندې وکتل؛ دمخامخ هوارې لمنې اوشاوخوا غونډيو او د ثمرخيلو له غره څخه داسې تپ لګېد چې ته به وايې دتيرو پرځاى سرو سکروټو د زمکې مخ نيولى دى. دلمر سره تبۍ وار په وارنوره هم لوړېده شاوخوا زمکه د اور په شان سره شوه. لږ وړاندې پرزمکه باندې د ډاټسون موټرو او موټرسايکلونو د ارابو پلونه ورته دمبهمو او سپېرو کرښو په شان ښکاره شول، هغه يې بد شاګوم وګاڼه. شاوخوا بيا ځير شو، خو څه يې ونه موندل. ځان ورته يواځې ښکاره شو او نن به تش لاس بيرته ستون شي. پخوا لږ ښه و په يوه ورځ کې د بريښنا له پايو، د سمنټې ديوالونو او پلونو څخه هم يو څه ترلاسه کيدل، په نيمه ورځ کې پوره څو بوجۍ کباړ برابرېد.

تشه بوجۍ يې په اوږه راسمه کړه، هغه ورته د يوه تش کچکول په شان ښکاره شوه. د راتګ پرمهال ده سره دوه تنه نور هم وو، هغوى په يوه بله خوا تللي دي، ښايي هغوى يو خروار وسپنه راټوله کړي. په دې ورځو کې سمو نيمو مهاجرو دکباړ په وړلو او خرخولو ژوند تېراو.

ناڅاپه یې غرهار تر غوږو شو، ووېرېد ځان سره یې ویل: لکه چې قوا را باندې راغله؟ چې د غږ خواته ځیر شو، نو دوه موټرسایکلونه یې ولیدل چې د یوې غونډۍ له اړخه راتاو شول، د خاورو او دوړو یوه لړه ورپسې هواته پورته کېده. ده شکر واېست چې کوم خطر نشته. موټر سایکلونه لکه په هوا کې چې غومبسې یو له بل نه اوړی، یو له بله څخه په مخکې کېدو او وروسته کېدو د ده په خوا راتلل. لار نرۍ، کچه، له خاوړ او شګو ډکه او کږه- وږه وه. موټر سایکلونه وار په وار رانږدې او کله چې د ده له اړخه تېرېدل، ده ته یې په شک سره وکتل، خو هغوی لکه چې بیړه لرله. دواړو پکولونه او پر اوږو باندې ماشینګنې لرلې. په واسکټونو باندې یې ګردنۍ (چانټې)له ورایه ښکارېدې، له پکولونو څخه را وتې ځنې یې مخامخ تود باد شاته وهلې چې د پلن چج په شان ښکاریدې. هغوی په بیړه تېر شول، لاخره پسې یواځې د دوړو یوه سپېره لړه او د پټرولو تیلو توند بوی پاتې شو. پام یې شو چې ډېر تږی دی. سترګو یې د اوبو لټون پیل کړ، خو دلته نه کوهی و، نه چینه او نه کاریز.

تږي نور هم ګامونه ګړندي کړل، بیا یې غرهار ترغوږ شو. ده پسې لاخره له لرې یو ډاټسون موټر ګړندۍ راروان و چې د یو غوباړي په شان ورته ښکارېد.  ډاټسن د دښتې پر سینه غزیدلی کوږوږ کچه سړک باندې  ده ته رانږدې کېد. کله چی ښه رانږدې شو، ده لاس ورته پورته کړ. موتر ورو شو، تږي د خپلې تشې بوجۍ یوه څنډه تر غاښ لاندې کړه ورمېږ یې کوږ او په منډه دموټر شاته وروخوت. سیټ کې څلور تنه وسله وال چې د ماشینګنو یې تور میلونه بهر ایستلی وو، ناست وو، شاته باډۍ کې دوه تنه ناست وو. کله چی ورخوت ځان یی کلک کړ. موټر بیا ګړندۍ شو. په باډۍ کې دوه غټې وسلې لکه ویشتل شوی زاڼې پرتې وې: اوږدې غاړې، ټونګه، پښښې وزرونه !! لږ هاخوا د غټو غټو کارتوسو درانه درانه صندقونه ایښي وو. تږي مازې دسترګو له کونجه ورته کتل؛ لټ ، ماشه، جاغور... ده اوریدلي و چې کوچنیو ماشینګنو ته کلشینکوپ اودې غټو ته  دهشکه وایي.

تږي ته ارمان ورغی چې کاشکې د دې ماشینګنو او دهشکو دوره تېره او بیرته د زاڼو دوران راشي او د کامې پر سر یا د کونړ د سیند دشیلو پر سر بیا زاڼې او سارایی بتکی ووینی. د کونړ دسیند په یادېدو بیا تندې پسې واخیست. دسولې ارمان ورغی. مهاجرت نور ستومانه کړی و.

ډاټسن موټر دغازی اباد سیمې ته ګړندی روان و، ورپسې د خړو دوړو یوه لړه پورته کېده. هغو دوو تنو چې د ډاټسن باډۍ کې ناست وو، تږي ته په شک کتل او کله

به يې وړاندې د موټر د مزل په استقامت لارې ته کتل. دهشکې د دوی پښو ته پرتې وی. يو تن يې مخ راواړاو له ترې ښخه يې په غوسه ناکه لهجه وپوښتل :

- مهاجر يې؟
  هو !
- کومې کوميټې ته ځې؟

وړاندې پله سره کوزيږم.

ترې د موټر له ټکان سره يو ځل بيا دخپلې تشې بوجی يوه څنډه غاښو لاندې کلکه کړه او په دواړو لاسو يې د موټر د باډۍ وسپنه ونيوه.

ترې چې د بوجۍ څنډه يې غاښو لاندې وه، په سختۍ دوی خخه وپوښتل کله راغلي ياستئ؟

- سهار وختي.

کومسی راغلی؟

- له باړې نه د څخوبی کنډو په لاره رااوښتي يومانښام بيرته ستينږو، ځې؟

تش لاس يم.

دا وخت يو نږيدلی پول راورسېد.

ترې غږ وکړ:

کوزيږم. دبوجۍ څنډه يې لا غاښو خطا شوه ، خوژر يی په لاسو را ټينګه کړه. بوجۍ تشه او سپکه وه. لکه د باد په شان سپکه وه. ترې ته يې د ډکولو ارمان ورته.

- يوه تن ورته وويل همدلته کوزيږی؟

هو.

ډاټسن ډير ورو شو او ده ورڅخه ټوپ کړ.

دهسکې مينې کلی لږ څه ښکاره کېد. کامه ډيره لرې پاتې وه، مخامخ، له سيند نه پورې زښته ډيره ليری.

د ډاټسن ټیرونه په تیزۍ وڅرخیدل خاورې او شګې یې وشیندلې او همداسې په مزبوت غږ تیزروان شو. تړي شاوخوا کتل. دسړک خواوو ته یې هیڅ شی ونه لیدل؛ نه کوم سوځیدلی موټر و، نه د غازی آباد دفارمونو کوم ټرکټور...

له مخامخ لوري تود بادلګېد. تړي موتر پسې کتل، ځان سره یې ویل که یوه دوه منه کباړ مې ټول کړی وای اوس به همدې ډاټسنه کی تر څڅوبي تلم او بیا به اووښتم. سبا به مې پلورلې وه.

تړی د نړیدلی پله خواته ورتاو شو. د پاخه پله پر ژۍ کیناست له جیبه یې کوچنۍ فولادی اره او دسمنټو د ماتولو درونډ څټک را واېستل. له پله څخه لږ هاخوا یوه سمنټي پایه وه چی نیمه الوځول شوی وه، د ګاډرو سیخان یې ښکارېدل. لږ وړاندې دتیلفون د مزي یو پایه نړیدلې پرته وه. دتړي زړه له خوشحالۍ دربکې ووهلې. ځان سره یې حساب وکړ. له دغو وسپنو پوره شپیته کلدارې جوړېدای شي.

یو ناڅاپه د هسکې مینې له بریده د شپږو پرله پسې موزایلو د ویشتلو غږ واورېدل شو. د ده د اټکل له مخې میزایل د جلال آباد په لوري والوتل، هوا کې یې یو شغهار و. له هغې ورځې راهیسې چې روسان راغلي وو، بیا دی جلال اباد ته نه وتللی. له خپلو کلیوالو سره یوځای له کامې څخه مهاجر شوی و. دجلال اباد او کامې په رایادېدو سره یې روسانو ته قهر یو په دوه زیات شو. لاس یې دسترګو له پاسه څپر کړ شنه آسمان ته یې وکتل: په هر میزایل چی دوه – درې کوپار ولګیږي، نو له شلو به ډېر ووژل شي، خوشحاله شو.

دشپېتو کلدارو او د شلو کوپارو له اټکلي حساب سره سم یې واسکټ وکیښ یوې خوا ته یې ګوزار کړ. له سمنټي پایې د ګاډرو په ایستلو بوخت شو. کمیس یې د خولو له زوره لوند خیشت و.

تړی په بیړه لګیا و چې په پولادي قلم وسپنې د سمنټو له منځه را وکاږي چې یو ناڅاپه یې خواته ګړز شو. له ګړز سره زمکه خیرې، د ده غوږونه دپ او د اوږ سپېرغۍ هره خوا والوتې. له چاودنې سره سم د تړي په سترګو کې الوتې سپېرغۍ ستوري ستوري شوې او له خاورو او شګو سره یوځای څو قده له زمکې پورته او بېرته پر زمکه راولوېد. رڼا ورځ توره شپه شوه او د زمکې پر مخ یو کوهی وکیندل شو. د تړي پرې شویو اندامو سوی وکړ، ستونی یې وچ او ژبه یې ترخه شوه، ځان ورته سپک او تود غوندې ښکاره شو، نور څه یې ذهن ته ورنغلل او د وینو څاڅکو یې په شاخوا تیرو او شګو یویو سور خال کېښود. د هغه پر چپه اړخ

لویدلی پکول او د پله خوا سره ایښودل شوي واسکټ باندې یو پریړ ګرد پریوت. هیڅوک پوه نشول چې تړی له کومې خوا راغی او په کومه  روان و.

## خالونه

د  وړي د میاشتې شلمه ورځ وه. د کندهار تود اوړی په تېرېدو و او هوا ماته شوی وه. دا وخت د کندهار انار او انګور پخېدو ته نږدې او د بازارونو ښه جم وجوش و. په همداسې موسم کې د هر کال په شان د کندهار ښار نوې ښه موندلې وه، نور نو د هټیو مخې ته چا سیوری نه جوړاو. هرڅه رنګ بدلاو. له شاو خوا ورشو ګانو او ایلبندونو د کوچیانو د کډې کولو ورځې نږدې وې. د ډنډ ولسوالۍ او ماله جات دښار د ودانیو له بامونو شنه ښکارېدل، دامان ډېر شین نه و، خو هلته په یونیم باغ کې دکندهار د نورو سیمو په پرتله انګور پاخه وو. دلویې والې ښخه لږ پورته دښتې کې؛ د کوچیانو کیږدیو ښخه یوې کوچۍ د مستو یو سپین دېګ پر سر رااېښی و او په اوچتو ګامونو د بازار خواته را روانه وه، لاخره پسې دهغې پنځه- شپږ کلنې لور چې لویه او ډېره درنه لمن یې له ګامونو سره وړاندې – وروسته کیده لوځې پښې منډې پسې را وهلې. کله چې دوی بازار ته را ورسېدل، نو ګڼه- ګوڼه زیاته شوې وه. کوچیانو به هرسهار پوځه، مستې یا شیدې راوړل، هغه به یې د بازار پر خلکو پلورل او له دې ځایه به یې یو نیم شی یېرودل.

بازار کې خلک هر لوری تلل. د هرچا بیړه وه، یو راته او بل ته، خو یوه هم بازار کې له ځانه کومه ښه نه پرېښوده او نه چا دا ډېر زیات خلک شمېرل. خلک هماغسې راتلل او تلل لکه دې دنیا ته چې له اوله تر ننه بې شمیره مخلوق راغلی او بیرته تللی. ډېر پکې ارمانجن ښکارېدل، ځینې پکې سودایي او یونیم پکې ډېر بی پامه هم و. یو نیم بیا هیڅ بیړه نه کوله.

 د کوچۍ پینځه- شپږ کلنه لور هم د دې بازار یوه سیل کوونکې وه. یو هټیوال چې په ملا کړوپ شانته و او دهټۍ مخې ته یې اوبه شیندلې لکه د نورو ورځو په شان له کوچۍ ښخه مستې وپېرودلې، هغه یې د خپلې هټۍ دختو کټو کې تشې کړې، د کوچۍ سپین دیګی یې بېرته ورکړاو یو څو روپۍ یې وروشمېرلې اود ړومبی په شان دخپلې هټۍ په سمبالولو بوخت شو. د کوچۍ لور دا مهال دهټیو په ننداره وه، کوچۍ په غوسه ورغږ کړ:

پرخې ! راځه سی ځو.

دوی روان سول. کوچۍ تش دیګی پر سر ایښی و، پرته له دې چې په لاسونو یې ونیسې همداسې بیدریغه روانه وه، په دې کې به چې کله پرخه وروسته پاتې سوه، نووربانديې غږ به یې وکړ:

- پرخې، را زغرده سه !

هغی به را منډه کړه بیا به یی هم د اوږده او لوی کمیس درنه لمن وړاندې – وروسته کیده او د مور د لوی ټیکري پیڅکه به یی ونیوله او ورسره سمه به روانه سوه، یوځل بیا چیرې په کتو کتو کې وروسته پاتې سوه. دوی د سرپټ بازار څخه په تېرېدو و، چې پرخې یو دړی ډوله زري غوندې کاغذ وموند. ژر یې را پورته کړ. د دا سګریټو د ډبی کاغذ و چې ځلېده. هغه یې لاس کې کلک ونیو، ورته خوشاله سوه، موریې چټک ګامونه اوچتول. په سرپټ بازار کې کوچۍ د تار پلورلو یوې هټۍ ته ودرېده چې تار واخلي. په هټۍ کې تار ، ستن، زردوزي خولۍ، دسمالونه، اوبدل شوې غاړې او لوی او کوچني څادرونه پلورل کېدل. هلته مخامخ څو بوتلونه کتار ایښي وو، په هغو کې راز راز مرۍ وې یو څو نورو کې رنګه خالونه ځلېدل. په یوه بل غټ بوتل کې غټې او کوچنۍ مرۍ ښکارېدې. کوچۍ له هټیوال څخه دېرستنې د تورو تارو پوښتنه وکړه. هټیوال دوه- درې کلاوې تور تار چې لکه د ښځو د کمڅیو په شان سره تاو شوي وو، د کوچۍ مخې ته کېښودل. کوچۍ یوه کلاوه تار راپورته کړل، په کوچیانی لوړ غږ یې وپوښتل:

- دا پرڅو؟

هټیوال چې د ګیډړې د لکۍ په شان یو برس مخې ته لر- بر کاو کله به یی مچان وربانديی شړل او کله به یې د څادرونو له سره ګردونه وربانديې څنډل، دتارو کلاوې ته وکتل او په داسې اکټ یې کوچۍ ته وویل لکه هغی ته یې چې وړیا یا ډېر ارزانه ورکوي:

- ادې دا په شل اوغانو دي.

کوچۍ پرته له دې چې له خپل سر څخه دیګ کوز کړي، یا هغه په لاسو ونیسی، لګیا وه او تارونه یې کتل. دا وخت هټیوال د تاروصفت ورته شروع کړ؛ په وچ او نري غږ یې ورته وویل:

- ادې دا خورا نامی کلک تار دي ...

لکه چې د کوچۍ دغه صفتونه ډېر نه خوښېدل او د خبرو حوصله یې نه لرله، ژر یې یو شلګیز ورکړ او یوه کلاوه تور تار یې راپورته کړل. دا وخت پرخې د مور د ټیکري پیڅکه کلکه ونیوه او په زاریو یې ورته وویل:

- ادې خالونه راته واخله .

رنګه او ځلېدونکو خالونو دښیښه یی بوتلونو له منځه پرخې ته سترګکونه وهل او هغې ته ډېر ښکلي ښکارېدل، دهغې کوچنی زړه یې تخناو. په بوتلو کې سره، شنه، ژیړ آن سپین خالونه ایښي وو. هټیوال په نري او وچ غږ د خالونو صفت شروع کړ.

ادی دا خورا شکولی او شایسته خالونه دي...

پرخې بیا دمور ټیکری وخوځاو. کوچنی نجلۍ خالونه غوښتل. دوه سترګی یې د خالونوډکو بوتلونو پورې ګنډلې وې. ګوته یې د بوتلو خواته نیولې وه. هټیوال په یوه سا د خالو صفتونه کول.

ادی دا خورا شکلی او شایسته ...

پرخی بیا دمور د ټیکري پیڅکه وخوځوله . کوچۍ بیا هم پرته له دی چې سپین دیګی له سر څخه راکوز کړي، یا هغه په لاسونو ونیسي، د خپل ټیکری له یوې پیڅکی یي یو لسګیز را وکیښ او هتیوال ته یې ورکړ. هټیوال دسترګو په رپ کې بوتلونه را واخیستل ځو دانې سره، څو شنه، څو سپین او ژیړ خالونه یې سره ګډ کړل، کوچنی پرخې ته یې ورکړل. پرخې نیم خالونه په یوه موټی او نیم نور یې ړومبني موندلي رنګه کاغذ سره په بل موټی کې کړل اوخوشحاله شوه. مورته یې پورته وکتل د مننې په دود یې خندل. دپرخې کوچنی زړه له خوښی په کوګل کې له خوشحالۍ داسې رپېد لکه کوچنی مرغی چې په کپس کې ټوپکې وهي. ډېره خوشحاله وه، لکه تر اوسه یې چې په ټول ژوند کې داسې خوښي نه وی لیدلي، خو مور ورته په غوسه وه. پرخې ته همدا اوس د ټولې نړی نعمتونه د دغو خالونو او دهغی دړۍ په اندزه نه ارزېدل، لا دا ترټولو نعمتونو ورته زیات وو.

هټیوال د بوتلونو سرونه بیرته ټړل او هغه یې پرخپلو ځایونو اېښودل. کوچۍ خپلو پاتې پیسو ته غوټه واچوله او د پرخې کوچني زړګی د خوشحالۍ دربکې وهلې چې یو درز شو. له درز سره د هټیو دړې او د دیوالونو خښتې هواته والوتې. سرپټ بازار ټول دوړو او تور لوګي ونیو. دا وخت د یوې هټۍ مخې ته یوه کوچنۍ نجلۍ داسې په یوه اړخ لوېدلې وه چې له کوچنیو لاسونو څخه یې سره، ژیړ او

شنه خالونه هرې خواته شيندل شوي وو، له خالونو سره په خوا کې  سرو وينو پرزمکه لاره ايستلې وه. نور نو خالونو هغه ځلا نه درلوده، نور نو خالونو سترګکونه نه وهل، نور نو خالونه ډېر شرميدلي وو، لکه چې هغوی غوښتل ډير ژر ځانونه د هرچا له سترګو پنا کړي.

**ســـتر ارشاد**



د ذوالحجې میاشت ډېره را لنډه وه. دغه میاشت ځینې کلونه نهه ویشت ورځې وي. د مبارک پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ارشاد به حجاج د ذوالقعدې میاتشتې له شلمې وروسته ټولېدل؛ زیاتره به لومړی مدینې منورې ته راتلل، بیا به د مکې معظمې په لوري ټول یوځای تلل، یو شمېر نور به له اطرافونو مخامخ مکې منورې ته راورسېدل.

له لیرې یوځو د خرماونې لکه دزمکې پر مخ د یوې تورې پټارې په شان ښکاریدې، په همدې برید دوه درې ځایه سراب لکه د رڼو او یخو اوبو په شان ترسترګو کېد. د کاروان د اوښانو سیوري د دوی له پښو سره وو. په دې ورځو کې به د عربو بېدیانی بیړی له شام، مصر، حبشې ،مدین او وادی السبع تر مدینې منورې سفرونه کول او د سوداګرو د کاروانونو د تګ او بېرته راتګ او بیا دحج ورځې نژدې کیدې . په دغو ورځو کې مدینې منورې یو بیل شان، شوکت او ابهت درلود . لکه چې ټول برکتونه او انوار دلته راټول شوي وي .

له هغه راهیسې چې د اسلام د مبارک دین لومړنی ځرک وځلېد ، درویشت کاله پوره کېدل. درسالت آسمانی پیغام تر ډېرو ملکونو خپور شوی و. د ذوالقعدې د میاشتې په راښکاره کېدو سره حضرت رسول (ص) سرور کاینات محمد مصطفی احمد مجتبی وفرمایل چې مسلمانان دی د حج سفر ته چمتو شي . د خاتم النبیاء صلوة الله علیه وسلم هدایت او بلنه به مومنانو ته یو زیری او دبې شانه کیفیت او تاثر ځخه ډک اغیز و . کله چې اصحاب کرام د پیغمبر(ص) درانه حضور کې مشرف وو، نو ټولو به لاسونه په زنګنو ایښي وو او په یو خاص تمکین او چوپتیا به یې سترګې

نه رپولې او دحضرت رسول الله(ص) ارشادات به يې د زړه په غوږونو اورېدل او کله چې ټول د حج د سفر له نيت څخه خبر شول، خلک له هر ګوټ څخه ډلې ډلې مدينې ته راتلل، خيمې به يې غوړولې او د تګ د ورځې په تمه وو . له لرې او نژدې سيمو څخه په سلګونو زره خلک چې حج ته د تګ لپاره  چمتو شوی وو، راټول شول .

د ذوالقعدی د مياشتی پنځه ويشتمه ورځ وه. د کائناتو سردار او د انبياوو د سالار محمدصلی الله عليه وسلم د حرکت ساعت نژدی کېد،  د پيغمبرصلی الله عليه وسلم ناقه (قصواء) مدينه کي زنګنونه پرزمکه کېښودل او کله چی پيغمبر(ص) د هغې جلب وخوځاوه او قصواء پورته کېدله، نو لويې زمکې خپل وجود کې يو دروند خوځښت احساس کړ . د زمکې له سره تر عرش پورې يو معطر او ګوارا ورم خور شو، زمکې او آسمانونو کې يو پرتم او حرارت پريووت. کله چې قصواء لومړی ګام پورته کاوه، نو پيغمبرصلی الله عليه وسلم وفرمايل:«لبيک اللهم لبيک ، لبيک لا شريک لک لبيک ، ان الحمده و النعمة لک والملک لا شريک لک ، ....» دې غږ سره د آسمانونو ملائيکو د تعظيم سرونه ټيټ او د پيغمبر(ص) مبارک آواز سره سل زره مسلمانانو حج کوونکو خپل غږونه ستوي کړل او له هغو سره يو ځای د کائناتو او د ټولې هستۍ هرې ذرې دا غږ تکرار کړ او تلبيه يي ذکر کړه. له دې سره سم د حج ته تلونکيو يو لوی کاروان د مکې معظمې په لوري وخوځېد. دغه کاروان بشريت ته د سولې، سلم او وروري پيغام ليږداو او کله چې خدای (ج) مکه معظمه خپلو بنده ګانو او انبياوو ته د ميثاقونو او آزمايښتونو يوه جايګاه هم ګرځولې وه. هغه آزمايښت چې الله تعالی په هغو سره حضرت ابراهيم(ع) او حضرت اسمعيل (ع) و آزمايل او بيا هم کله چی د حضرت ابراهيم (ع) له پښته او نسلونو څخه  نور اولادونه رالوی شول، نو په دې کې حضرت ايوب(ع) هم د آزمايښتونو د يو ستر آزمايښت سره مخامخ شو او دا دی حضرت رسول محمد مصطفی(ص) هم خپل کاروان او يارانو سره په هغه لوري روان وو چې ابراهيمي سنت خپل امت ته و ښيی او يو ستر ارشاد او د بشارت عظيم آزمايښت او له خير او سعادت څخه ډک امر او هدايت هغوی ته واوروي.  دا کاروان چې د تلبيه ، تهليل او تسبيح انګازې يې هوا کې خپريدې، ټول د سولې، امن او امان د پيغام او بشارت وړونکی و. هغوی هيڅ ژوندی موجود نه ځوراوه، سارايی مرغان يی نه تورول، هغوی هيڅ شين ډکی او بوټی نه غوڅاو. په هيڅ شي يي د تعرض او تجاوز اجازه نه ورکوله دا ځکه چې د هغوی بشارت هر شي او هر موجود ته سلام، امان، عزت، صفا او امن و.   حضرت رسول خپل امت ته د تعاون او تساند ، وروري او خير ، حوصلې، رحم او زړه سوي هدايت رساو. هغه مبارک غوښتل چې ټول بشريت ته د عدالت ، مساوات ، اخوت ، خير او عزت لار وښيی.

دغه ستر ارشاد او بشارت لرونکی کاروان د ذوالحجة الحرام په څلورمه ورځ مکې ته ورسېد . مکې ته له لرې او نژدې سیمو څخه نور زیات شمېر مسلمانان لا پخوا راټول شوي وو او خپل محبوب لاربښود حضرت محمد(ص) ته منتظر و .

ماښام کاروان ذی طوی کې تم شو په هغه سبا د کعبې د کور په لوري وخوځېدل او د هغې په لیدو یې د هغې د عظمت ، برکت او شرف لپاره دُعا و کړه .

حضرت رسول مقبول (ص) دا څو کاله د دعوت په کار دومره بوخت و چې ایله په همدې کال وزګار شو چې له ډېرو مسلمانانو سره د حج مراسمو ته تشریف یوسي. دا د بعثت درویشتم کال و. حضرت رسول- سالار انبیا وروسته تر دُعایی د حج په مراسمو پیل وکړ. په نمرة کی یی خیمه ووهله ، د عرفات په میدان کې یي ټول مسلمانان راغونډ کړل ، خلک شاوخوا په صفونو کې سره راټول شول او دخپل رهبر د خبرو د اورېدو لپاره غوږ غوږ شول ، حضرت رسول(ص) وفرمایل :

ـ ای خلکو ، زما خبرې واورئ ځکه ؛ زه نه پوهیږم چې نور به وروسته تر دغه کاله دلته هیڅکله هم تاسو سره مخامخ نشم....

د دې خبرو په اوریدو سره د نیم مخلوق سترګو کې اوښکی ډنډ شوې. د پیغمبر نږدې اصحابو هم په تاثر زمکی ته کتل، خو د خپل لاربښود او د انبیاوو سالار خبرې یې په زغم اوریدې:

ـ ما تاسو ته د فرض حج مراسم پخپله دروښودل. په بل کال کې به زه تاسو سره و نه اوسم  او بیا دزرګونو مسلمانانو په سترګو کې اوښکې ډنډ شوی. دا شپېه مسلمانانو دخپل محبوب پیغمبر مبارک او نورانې صورت ته وکتل او دهغه ستر ارشاد ته ځیروو چې فرمایل یې:

ـ ای خلکو ستاسو وینه ، ستاسو مال او ستاسو آبرو د قیامت تر ورځی یو پر بل حرام دي. آیا د حق پیغام مې تاسو ته واوراوه؟

له خلکو آواز پورته شو:

ـ هو! واموورېدل!

حضرت رسول (ص) بیا  وفرمایل:

ـ یا الله ته شاهد او ګواه اوسه ، او په تکراریي وفرمایل :

ـ ... نور نو د وینی بدل اخیستل منع کوم... ای خلکو واورئ چی ستاسو د هر ورور مال پرته د هغه له رضایت څخه پر تاسو حرام دی ، آیا حق می تاسو ته ورساوه؟

بیا هم د خلکو له ګڼی ګوڼې آواز پورته شو:

هو؛ یا رسول الله (ص) وامووريد.

حضرت رسول (ص) خپل رسالت او په هغه څه چې مکلف و ټول مسلمانانو ته واورول او په مفصل ډول یې هغوی ته ارشادات بیان کړل بیایی وفرمایل:

ـ حاضرین دی زما دا خبرې غایبینو ته ورسوي او یا الله ته شاهد اوسه. او دا خبره یې دری ځلې تکرار کړه.

کله چې رسول الله (ص) خپل رسالت او د انسان، انساني کرامت بیاناو، نو د بې شمیره جمعیت په لور یې نظر وکړ او د خدای (ج) څخه یې د هغه تحمل، زغم ، صبر او توفیق مننه وکړه چې ده او د ده اصحابو ته یې نصیب فرمایلی و، هغه چې د رسالت په دوره کې ور په برخه و. مکې معظمې د وروري، اخوت، سولې، صفا ، له حرامو څخه د پرهیز او ایمانداری ستر ارشاد واورېد چې اسلامي امت یې په دې میثاق قایل کړ، همدا وخت د لوح محفوظ څخه د ( الیومُ اکملتُ لکُم دینُکُم...) خبر راوسېد .

سرور کائنات محمد مصطفی احمد مجتبی دغه ستر ارشاد خلکو ته واوراوه ، پرځمکه او آسمانونو یو هیبت خور و، نور نو د کائناتو د قضا او قدر په دیوان کې د پیغمبرانو او رسالت پر سلسله د نبوت د پای مُهر ولګول شو .

۱۳۵۸

کابل پوهنتون

## د افغانيت «اپه گانيت» ثبوت

(يوه لنډه تاريخی کيسه)

موږ (د آرين پښت ) هيڅکله په ځان نوم نه دی ايښی؛ دا نور دي چې د دغه پښت ميړانې ته ګوته په غاښ او بيا يې ورته « آپه ګان » ستر ميړني ولس نوم ورکړی او بيا د عربو او عجمو په خوله دغو افغانانو د خپل افغانيت ثبوت په ريښتيا هم ورکړی!

په ۱۸۳۹م. کې سره له دې چې د هندوستان (د سرو مرغۍ ) د انګريز په ولکه کی وه، خو د آسيا په زړه کې لا د آزادۍ او بهادرۍ وينه په جوش وه او انګرېز په دې پوهېد چې دغه زړه ټولې آسيا او په تېره هندوستان ته د آزادي ژوند وربخښي. دوی ته په دې هکله د افغان- انګليس د لومړۍ جګړې ناکام يرغل هم د عبرت درس و، نو په دې کال يې په بربنډه توګه زموږ پر وطن يو ځل بيا د بلوسېدو هڅی پيل کړی. دوی تر ۱۸۴۱م. پورې په راز راز پلمو غوښتل زموږ باتور ولس ښکېل کړي. په پای کې؛ سره له دې چې انګرېزانو افغانی ملي مشران، دولتي مخورين او لارښوونکي په هر لوري خواره واره کړل، مګر ولس په خپل نوښت د تاريخ په سلګونو ګُمنامه قهرمانان او سپاهيان مخته کړل او د انګرېز د ايستلو هوډ يې ترسره کړ.

***

... تیر منی و، د لوړو چنارونو پاڼې ژیړې اوښتی وې، لکه د بنګالي پیغلو په شان چی د ګډا ژیړ اتلسونه یې اغوستي وي او نری نری ورمې یوه شیبه په کرار نه پریښودې. لکه د هر مني په شان د کابل د سین اوبه خړې اوښتی وې. لکه چی د سین غاړو ( د موج خیزی ) موسم ته تیاري نیوله؟!

د سین دوو خواوو ته د ذولفقار کلا، ظریف خان کلا، چنداول، باغ قاضی، تخته پُل ... په خپلو لوړو برجونو، تیرکش لرونکو دیوالونو او سنج لرونکو بلیو سره د تاریخ د عظمت او د خواجه صفا د ابهت د ښـې په توګه په خپل زړه کې پټ توپان درلود.

د ماښام لړه په خوربدو وه چی عبدالله خان اڅکزی، امین الله خان نایب لوګري، امام بِردی ازبک او دوست محمد غلجائی د باغ نواب سیمې کې د نورو ملی او ولسي مشرانو د راټولیدو په تمه ناست وو. له نږدې جومات څخه د « الله اکبر» او ورپسی لږ څه هاخوا د څو کسو دګامونو غږ د دوی خبرې و وشلولې. دوی سمدستي د لمانځه په نیت پاڅېدل. دغه څو نوي کسان چې راورسیدل؛ دوی آغا حسین قزلباش، عبدالعزیز سلیمانخیل او میر آفتاب عاشقانی عارفاني وو. دوی په څو صفونو کې اقامت وکړ او د لمانځه څخه وروسته یې د الله (جل جلاله) دربار ته د سولې او پر انګرېز باندې د بري د دُعا لاسونه اوچت کړل.

د شپی په پخیدو سره څه د پاسه اویا تنه د مبارزینو او ننګیالیو مشران را ټول او له انګریز څخه د هیواد د پاکې خاورې د آزادۍ نقشه یې جوړه کړې وه. د دوی لومړنی کار دا و چې انګلیس مکناټن ته یې ګواښلیک وسپاره، همدا و چی په دوه- درې ورځو کې د ښار هټی وتړل شوی، د پُلخشتی جومات کې د غزا اعلان وشو، ټولو ښاریانو د پرنګیانو د شړلو ملا وتړله. د ژمي لومړۍ واوره لکه د پاغوندو د پنډوسکو په شان ورو ورو د ځمکې پر مخ خپل سپین څادر غوړاوه چې انګریزی لښکر په بالا حصار کې د وېرې یخنۍ نیولی و. ننګیالیو په لږو ورځو کې یو بشپړ ولسي لښکر جوړ کړ. په بالا حصار کې د پرتو پرنګي جنرالانو واټې وتښتېدې. لوی پرنګی مکناټن په منډه له بالا حصار څخه شیر پور ته وتښتېد، هلته خپلې لویې چوڼۍ ته ورغی، کله چې ننګیالي په دې وپوهیدل چی انګریزان د مقاومت نیت لري، نو پر هغوی یې ناتار پیل کړ. جنرال چارلس او جنرال برنس ووژل شول، دجنرال کیمپیل د لښکر اوه سوه تنه په یوه ورځ کې له منځه ولاړل او په خپله کمپیل ژوندی ونیول شو او له نیول کیدو سره سم یې د اسلام کلمه پر ژبه جاري کړه، بریګیډ یرشلتن هم د تېښتې لار غوره کړله ...

مېړنیو ننګیالیو د دښمن د ناموس د بچ پاتې کېدو لپاره هغوی ته خبر داری ورکړ چې خپل ماشومان او تور سرې په امن او امان له بالا حصار څخه وباسي.

د افغانانو دغه حرکت انګرېزان او دهغوی تور سرې هک پک کړل. هغوی او د هغوی تور سرو چې پخوا هم د افغانانو د ناموسداري، همت او مېړانې خبرونه اوریدلي وو، اوس یقیني شول چې دغه باتور قوم په خپلو خصلتونو کې د دنیا ممتاز قوم دی. هغوی پوهېدل چې افغانان د ترُحم او زغم لرونکي خلک دي. مګر که زور ورسره وچلول شي، نو بیا ځمکه په دښمن سور اور ګرځوي! او دې خبرې میرمن سېل د چورتونو په دریاب لاهو کړی وه ...

د میرمن سېل د سترګو تنابونه له بالا حصار څخه تر شیواکیو، زنده بانانو او بینیحصار پورې غځیدلی وو او په دې کې به یې کله کله د ننګیالیو د ( الله اکبر) غږونه تر غوږ شول. سېل که څه هم انګریزه وه او د خپل پوځ د تیري او بې شمېره ظلمونو شاهده وه، مګر بیا هم یو داسې اثر پرې غورځیدلی وو چې هکه پکه پاتې وه. د هغې سترګې د ساپیو د غرونو پر څوکو، شاخ برمته  او شیر دروازه پریوتې وې او د افغان ملت برَم او شوکت ورته همداسې هسک برېښېد. درې ورځې وروسته بالا حصار ته خبر راغی چې د انګریزانو قشلې په سیاه سنګ کې ماته خوړلې ده. په همدې مازیګر انګریزي جنرالان خبر شول چې افغانانو قندهار او غزنی کې هم انګلیسیانو ته خبر داری ورکړی، چی د دوی پاکه خاوره پریږدي او د افغانانو آزادي او استقلال په رسمیت و پیژني. مکناټن ته بله لار پاتی نه شوه دا یې ومنله چی ننګیالیو سره خبرو ته حاضر شي.

د ۱۸۴۱م.  کال د دسمبر په درویشتمه ورځ چې د کابل پر غرونو د واورې سپینه بړستن خوره وه، د پرنګي لوی لښکر دهغو له سوونو  توپونو او وسلو سره په سره تبۍ ناست و. تر دې وخته پورې انګریزانو توده جګړه کې څوځو ځله ماتې خوړلې وه، خو یواځې د سیاسي نېرنګونو او پستو خبرو په زور یې لا پښې په کابل کې ټینګې کړی وې. د ننګیالیو مشران د محمد اکبر خان په لارښوونه له مکناټن سره د لیدلو په خاطر په بی بی مهرو کې د هغود چوڼیو پر لور وخوځیدل. له مکناټن سره د هغوی خبرې د اوسنۍ اماني لیسې او راډیو- تلویزیون تر منځ سیمه کې وشوې. انګریزانو په ښکاره یو څه ویل، مګر په پټه یې غوښتل چې د پنجاب څخه دوی ته نوی مرستندوی لښکر راورسیږي او یو ځل بیا د افغاني ننګیالیو د توري په وړاندې خپل توپونه او زغرې و آزمایي. انګریزانو د ځنډ او خنډ په مقصد راز راز پلمې لټولې. د دسمبر په څوارلسمه نیټه یې افغاني مشرانو ته ویلي وو چې موږ غواړو زموږ نهه زریز ایسار شوی لښکر او د انګریزي جنرالانو کورنۍ له بالا حصار څخه بي بي مهرو

ته ولاړ شي. میړنیو مشرانو د هغوی دغه نتواتې ومنله. سردار سلطان احمد خان ته دنده وسپارل شوه چې دغه لښکر او په هغو کې انګریزۍ تور سرې د کابل د ننګیالیو د تورو له ګوزار څخه په امن - امان تر بی بی مهرو ورسوي، خو کله چې افغانان د انګلیس په دغو حیلو او نیرنګونو و پوهېدل، نو له پنجاب څخه د نوي لښکر تر را رسېدو او د دوباره صف آرایي تر مخه یې هغوی د تورې په زور له وطن څخه ایستلو ته اړ کړل. د ۱۸۴۲ د جنوری په شپېرمه ټول هیواد کې د آزادۍ غوښتونکو قیامونو د انګلیسانو اتلس زره کسیز لښکر او په سلګونو درانه توپونه او ټوپک اړ کړل چې کابل پرېږدي.

وروسته بیا میکنزي او لارنس ولیکل: «میړنیو افغانانو د انګلیس تور سرې او بوډاګان په پټ او درنښت وساتل ...» او کومه ماشومه نجلۍ چې د خورد کابل په لاره کې د انګریزانو له کورنیو څخه پاتی شوې وه، هغه مبارزینو د نواب محمد زمان خان کور ته وسپارله. نواب صاحب هغه د خپلې لور په شان وساتله او بېرته یې انګلیسانو ته ورسته کړه.

په دې توګه ریښتینو او میړنیو افغانانو تل د خپل « آپه ګانیت » ثبوت ورکړی، نورو منلی، اعتراف یې پرې کړی او د ویاړ نومونه یې پرې ایښي دي. دجنرال میکنزی او لارنس د خپور شوي تاریخ یوه کیسه په همدغو ټکیو لیکل شوې ده.

**پای**